# ژبنۍ څېړنې

مؤلف:

Ketabton.com

پوهندوی نوراحمد شاکر

۱۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه کتاب دوز مې مجلې د ۱۳۵۰ کال دلو مړی
او دوهمې گڼې په بدل کې چاپ شوی دی .

د کتاب د بين المللي کال په مناسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژبنی څیړنی

مؤلف :

پوهندوی نوراحمد شاکر

۱۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| مخ | مضمون |
| --- | --- |
| ۱ | لومړۍ خبرې |
| ۵ | ژبپوهنه او دهغې څانګې |
| ۶ | ژبه او لیک |
| ۸ | دانسان صوتي غړي |
| ۱۰ | دآوازونو وتونځې |
| ۱۳ | دآوازونو ډولونه |
| ۲۵ | فونیتیکس او فونیمیکس |
| ۲۸ | فونیم |
| ۳۱ | مورفیم |
| ۳۶ | مورفوفونیمیکي بدلون او دهغه ډولونه |
| ۴۱ | دیوې ژبې د مورفیمونو د معلومولو او پېلولو لارې |
| ۵۶ | لهجوي اطلس |
| ۶۷ | دلهجوي اطلس اصطلاحات |
| ۷۰ | یادونه |
| ۷۲ | مأخذونه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ خبرې

په اوسنۍ نړۍ کې د ژبې پوهان په دې عقيده دي چه له سړي وغواړي چه يوه ژبه په داسې توګه تدريس کړي چه شاګرد په لږ وخت کې هغه ژبه زده کړي نو ضروري ده چه د هغه تر تدريس، هم د شاګرد د مورنۍ ژبې او هم د هغې ژبې چه شاګرد يې زده کول غواړي فونيمي او مورفيمي تجزيه وسي او د دغو دواړو ژبو ساختمان او جوړښت او نور خصوصيات په صحيح ډول سره څرګند سي، وروسته د دغو دواړو ژبو د ساختمان د مقايسې او پرتلې له مخې د هغوی د ساختمان توپيرونه معلوم سي.

دا ځکه چه هر کله چه سړی کومه ژبه زده کوي، څکه چه دی د خپلې ژبې له ساختمان سره له کوچنيوالي څخه عادت لري نو که څه هم دی په دې ولوهيږي چه د ده مورنۍ ژبه او دا بله ژبه د جوړښت له مخې توپير سره لري خو بيا هم د خپل عادت له مخې هغه مطالب چه په نوې ژبه کې يې اداکوي د خپلې ژبې د جوړښت له مخې

ترتیبوي . او ترڅو چه د ژبې شاګرد و دغو ټوپیرونو ته متوجه نسي او په دغه برخه
کې ښه مشق او تمرین ونکړي ، د نوي ژبې د استعمالولو په وخت کې به د غو برخو کې
تل له غلطیو او اشتباه ګانو سره مخامخ کیږي .

د بېلو بېلو ژبو ویونکي د یوې ټاکلي ژبې په زده کړه کې بېل بېل
مشکلات لري . که یو انګریزي ژبې او یو دري ژبې وغواړي چه پښتو زده کړي ، د دوی
مشکلات سره یو شی ندي . د مثال په توګه د پښتو د دې دوو جملو ( زه ډوډۍ
خورم ، ما ډوډۍ وخوړه ) په زده کړه کې پرته له فونیمي مشکلاتو څخه انګریزي
ژبې دوه مشکله لري : یو دا چه دده په ژبه کې فعل د نومونو وجملو په پای کې نه راځي ،
بل دا چه په انګریزي کې د واحد متکلم له پاره په فاعلي حالت کې یوازې یو ضمیر (I) موجود
دی . مګر په پښتو کې دوه ضمیرونه ( زه ، ما ) استعمالیږي او دغه هر ضمیر د استعمال
ټاکلي او مشخص ځایونه لري . نو ښایي چه دا هرومرو ده ته ورزده سي چه په
پښتو کې فعل په کوم ځای کې راځي او په کوم ځای کې ( زه ) ووایي او په کوم ځای کې
(ما) . دري ژبې بیا د فعل په برخه کې دومره مشکلات نلري خو د نومونو وضمیرونو
په برخه کې هغه مشکلات چه انګریزي ژبې یې لري دري ژبې یې هم لري . دغه رنګه
د ( دا زما کور دی) په برخه کې انګریزي ژبې د (زما کور) په برخه کې څه مشکل نلري .
ځکه چه دی په خپله ژبه کې هم لومړی (زما) او بیا (کور) استعمالوي (my home)،
خو دري ژبې د مشکل سره مخامخ کیږي ، ځکه چه دی په دري ژبه کې لومړي (کور)
او بیا (زما) وایي (خانهٔ من) .

دغه رنګه ځکه چه د ټولو ژبو ټول آوازونه سره یو شی ندي نو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کي هم د ژبي زده کوونکي ممکن مشکلات ولري . دا مشکلات هم اکثره پوښي نوي . د مثال په توګه د (ختکي) په کلمه کي انګريزي ژبې د (خ) او دري ژبې د (ت) د تلفظ په برخه کي له مشکل سره مخامخ کيږي .

د ژبي په زده کړه کي د ژبي د بېلو بېلو لهجو د توپير برخه هم سترګي نسي پټيدلای. که يوه ژبه څو لهجي ولري نو د هغې ژبي د زده کړي په لومړي سر کي ښايي چه له نومورو لهجو څخه يوازي يوه لهجه انتخاب او هغه تدريس سي .

که د ژبي شاګرد وغواړي چه د يوې ژبي ټولي لهجي زده کاندي نو ښه لاره داده چه دی لومړی يوه لهجه ښه زده کړي او وروسته بيا د هغې لهجي په شمول د نوموړي ژبي د ټولو لهجو توپير ونه مطالعه او زده کړي او وروسته نو په هره لهجه چه خبري کوي د نومورو توپير ونو رعايت وکړي .

له نوموړي بيان څخه مطلب دادی چه د نړۍ ژبي د داخلي ساختمان او جوړښت له مخي کټ مټ يوشي ندي او يوله بله توپير سره لري . هرکله چه کومه ژبه وکوم ځای ته تدريس کيږي که د هغه ځای مخصوص مشکلات چه د نوموړي ژبي په زده کړه کي پي لري په نظر کي ونيول سي نو د ژبي شاګرد کولای سي چه پر نومورو مشکلاتو باندي په لږ وخت کي برياليسي او په يولږ وخت کي په صحيح ډول سره نوي ژبه زده کړي .

څنګه چه د مخه مو هم وويل د ژبي د شاګرد مشکلات هغه وخت څرګندېدلای سي چه د شاګرد د ژبي ساختمان او د هغې ژبي جوړښت چه شاګرد يې زده کول غواړي په علمي ډول سره تجزيه او تحليل سي . د هغوی د آوازونو ډولونه، مورفيمونه او د مورفيمونو ترکيب او د کلام د اجزاوو ترتيب او داسي نور خصوصيتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صحیح ډول سره معلومېږي ، وروسته د مقایسې او پرتلې له مخې د نوموړو دواړو ژبو توپیرونه (چه د دغو توپیرونو مجموعه په حقیقت کې د هغو مشکلاتو یوه مجموعه ده چه د ژبې زده کوونکي ته د ژبې د زده کړې په وخت کې ور پېښېږي) ښکاره سي.

په دې رساله کې د ژبې د ساختمان او جوړښت د سېړلو په باره کې ځیني مقدماتي- یادوني سوې دي او زیار ایستل سوی دی چه د ژبپوهني علاقه مندانو ته د ژبې د آوازونو او فونیمونو او هغوی په فونیمیکي الفبا سره د لیکلو ، د مورفیمونو د معلومولو او د هغوی د ډولونو او بدلونونو په باره کې څه معلومات وړاندې سي او دغه رنګه د لویې ژبې د بېلو بېلو لهجو د څېړلو او د هغوی د ثبتولو لارې چه د ژبې د ساختمان او- جوړښت د معلومولو په برخه کې ډېر اهمیت لري په لنډه ډول وښوولي سي او په دې توګه هغوی ته په دې باره کې د نورې زیاتې او بشپړې مطالعې له پاره زمینه برابره سي.

نور احمد شاکر

# ژبپوهنه او د هغې څانګې

ژبپوهنه هغه علم ته وايي چه د هغه په ذريعه د ژبې داخلي ساختمان او جوړښت تر څېړنې لاندې نيول کېږي او مهمې څانګې يې دادي : تشريحي ژبپوهنه ، تاريخي ژبپوهنه او مقايسوي ژبپوهنه .

تشريحي ژبپوهنه (descriptive linguistics) د ژبپوهنې هغه اساسي او مهمه څانګه ده چه په هغه کې يوه ژبه بېله دې چه تاريخي بدلون او تحول يې په نظر کې ونيول شي په يوه ټاکلي او معين وخت کې مطالعه کېږي . په تاريخي ژبپوهنه (historical linguistics) کې د ژبې هغه تاريخي تحول او بدلون تر غور او څېړنې لاندې نيول کېږي چه په بېلو بېلو دورو کې ورپېښ شوی وي . په مقايسوي ژبپوهنه (comparative linguistics) کې خو ژبې چه له يوې کورنۍ څخه وي يا د ژبو څو کورنۍ په مقايسوي ډول تر غور لاندې نيولې کېږي او يوله بله سره پرتله کېږي څو چه د دوی ترمنځ نږدېوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اړیکې څرګند سي .

په تاریخي ژبپوهنه کې دیوې ژبې مواد چه په دوو یا زیاتو دورو کې د دتشریحي ژبپوهنې له مخې تهیه سوي او څېړل سوي وي مطالعه کېږي. په مقایسوي ژبپوهنه کې د دوو یا زیاتو ژبو یا لهجو هغه مواد چه د تشریحي ژبپوهنې له خوا راغونډ سوي او څېړل سوي وي ترغور لاندې نیول کېږي او د هغوی ورته والی معلومېږي. نو ددې له امله د تاریخي او مقایسوي ژبپوهنې پوهان او محققین د تشریحي ژبپوهنې په محققینو پسې ځي او هغه مواد مطالعه کوي چه د تشریحي ژبپوهنې د پوهانو له خوا تهیه سوي او څېړل سوي وي . مګر د تشریحي ژبپوهنې پوهانو او محققینو ته د تحقیق په وخت کې د تاریخي او مقایسوي ژبپوهنې د محققینو مواد په ښه نه ورځي .

# ژبه او لیک

ژبه هغه آوازونه دي چه انسانان یې د خپلو افکارو او خیالاتو د څرګندولو په غرض تر یو خاص نظم او سیستم لاندې د صوتي غړو په واسطه له خولې څخه راباسي او په دې توګه په خپلو منځونو کې یوله بله سره رابطه پیدا کوي . لیک هغه سیمبولونه او علامې دي چه د هغوی په واسطه انسانان یوله بله خپل افکار او خیالات اظهار وي . لیک په عمومي ډول پر دوو برخو بانديي ویشل کېږي : یو تصویري لیک او بل الفبايي لیک . په تصویري لیک کې انسانان خپل فکرونه د تصویرونو او شکلونو په واسطه څرګند وي او د آوازونو سره کومه رابطه نلري . اما په الفبايي لیک کې د هغو آوازونو له پاره چه په خبرو اترو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعمالیږي سیمبولونه را وړل کیږي او ددغه سیمبولونو مجموعه چه دیوې ژبې ټول آوازونه وښیي د ژبې الفبا بلله کیږي.

ژبه او لیک که څه هم یو له بل سره نږدې رابطه لري خو بیا هم ژبه بیل شی دی او لیک بیل شی دی او باید دا دواړه سره ګډ نه سي. یو ژبپوهاند د ژبې او لیک تر منځ په سمه توګه توپیر کولای سي، خو هغه کسان چه په دې باره کې یې غور نوي کړي ژبه او لیک دواړه یو شی بولي، حتی کله کله څیني خلک لیک اساس بولي او په همدې اساس د ژبې قضاوت کوي حال دا چه اساس ژبه ده او د لیک قضاوت باید د ژبې پر اساس وسي. همدغسې اشتباه ګاني کله کله د ګرامر او ژبې تر منځ هم واقع کیږي. یو ژبپوهاند هر کله چه د ژبې ګرامر لیکي هیڅ کله د مورنۍ ژبې وویونکي ته دا نه وایي چه داسې مه وایه داسې و وایه. بلکه د دې پر ځای چه دی د مورنۍ ژبې وخښتن ته هدایت ورکړي دی په خپله باید د مورنۍ ژبې له خښتن څخه هدایت واخلي، یعنی باید پوښتنه ځنې وکړي چه تاسې څنګه وایاست؟ هر ډول چه هغوی ویل دی باید هغه شی کټ مټ په خپله دېتهاکې ضبط کړي. دا ځکه چه ګرامر د ژبې له مخې لیکل کیږي او ژبه د ګرامر له مخې منځ ته نه راځي. یو ژبپوهاند هیڅ وخت دا زیار نه باسي چه د ژبې ټول مواد هرومرو تر عمومي قواعدو لاندې راولي. ځکه چه دده په نزد د ګرامر د پوهانو په اصطلاح د ژبې استثناآت هغومره اهمیت لري لکه با قاعده شیان چه یې لري او استثناآت هم د ژبې یوه مهمه برخه تشکیلوي. نو که چیرې دی له هغو څخه سترګې پټې کړي یا یې په بله بڼه سره وښیي په حقیقت کې دی د ژبې د یوې مهمې برخې څخه سترګې پټوي او د ژبې د دغې برخې پر حقیقي بڼه او ساختمان باندې پرده غوړوي، او هغه چا ته چه دده د تحقیق له مخې نو موړې ژبه مطالعه کوي نیمګړي معلومات ورانډې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انسان صوتي غړي

انسانان یو له بله خپل افکار او مطالب د آوازونو په واسطه اظهاروي . دغه آوازونه چه انسانان یې د صوتي غړو په واسطه له خولې یا پزې او یا خولې او پزې دواړو لارو څخه راباسي د ـــ فونیتیکس (Phonetics) او فونیمیکس (Phonemics) په واسطه چه د ژبپوهنې دوې مهمې څانګې دي مطالعه کېږي . په ژبپوهنه کې یوازې هغه آوازونه تر څېړنې لاندې نیول کېږي چه په ژبه او خبرواترو کې استعمالېږي . دادی اوس به د انسان هغه صوتي غړي چه د خبرواترو په وخت کې د آوازونو په تولیدولو کې مهم برخه لري په دې لاندې شکل کې وښیو :



(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېر شکل کې د انسان صوتي غړي په دې لاندې ډول سره ښوول سوي دي :

۱- ژبه : ژبه پر پنځو برخو باندې وېشل سوې ده : ۱- ریښه ( root ) ۲- وروستۍ برخه (dorsum) ۳- منځنۍ برخه ( Center ) ٤- د مخنۍ برخه ( blade ) ٥- د ژبې سر (tip).

۲- د خولې لوړه برخه : ٦- ژبې (uvula) ۷- نرم تالو (velum) ۸- زیړ تالو (dome)

۹- اورۍ ( Alveolar ridge ).

۳- غاښونه او شونډې

٤- ستونی ( pharynx ) چه دوې لارې لري : یوه د خولې او بله د پزې . که نرم تالو پورتې خواته و خوځېږي نو د پزې لار وتړله شي ، او که ژبه د نرم تالو و خواته و خوځېږي د خولې لار وتړله سي .

٥- د غږ مزي ( Vocal cords ). د تنفسي نل په لوړه برخه کې موقعیت لري او د نرو تار و څخه تشکیل سوي دي . د آواز د ادا کېدلو په وخت کې هوا د حنجرې (larynx) له خالیگاه څخه د غږ مزو ترمنځ تېرېږي . که د هوا د تېرېدلو په وخت کې د غږ مزي بېخي سره نژدې وي نو د هوا جریان یې رپوي او کوم آواز چه په دغه وخت کې تولیدېږي د غږن آواز ( Voiced sound ) یې بولي لکه د ( ب ) یا ( د ) آواز .

او که د غږ مزي له سره لیري وي د هوا جریان یې نسي رپولای او په دغه وخت کې بې غږه آواز (Voiceless sound) تولیدېږي لکه د ( پ ) یا (ت) آواز . دغه سبب دی چه د غږ مزي په صوتي غړو کې ډېر اهمیت لري .

# د آوازونو ونځي

## (Position of articulation)

د انسان صوتي غړي د خولې په خواکې پر دوو برخو وېشل کېږي: ښوروونکي او نه ښوروونکي. ښوروونکي صوتي غړي (Articulators) هغه صوتي غړي دي چه د آوازونو دادا کولو په وخت کې په حرکت کې وي او هغه دادي: د ژبې وروستۍ، منځنۍ او مخنۍ برخه، د ژبې سر او لاندې شونډه. او نه ښوروونکي صوتي غړي چه —— (Point of articulation) يې بولي هغه صوتي غړي دي چه د آوازونو دادا کولو په وخت کې حرکت نه کوي او ځای پر ځای ولاړ وي. دا صوتي غړي دادي: نرم تالو، زېږ تالو، اوري، د لوړو غاښونو بېخونه، د لوړو غاښونو سرونه او لوړه شونډه.

هر کله چه ښوروونکي او نه ښوروونکي صوتي غړي سره يوځای سي د آوازونو ونځۍ او مخرجونه تشکيلېږي. د مثال په توګه که د ژبې سر او د لوړو غاښونو بېخ سره يوځای سي نو د (ت) يا (د) مخرج تشکيلېږي او که کښته شونډه او لوړه شونډه سره يوځای سي د (ب) يا (پ) ونځۍ تشکيلېږي. که لاندنی جدول چه په هغه کې د ځينو آوازونو ونځۍ او د هغوی د ولونه ښوول سوي دي په غوږ وګورو په عمومي ډول آوازونه پر درو واسو اولويو ډلو باندي وېشل سوي دي: انسدادي (stops)، احتکاکي (Fricatives) او طنطنه لرونکي (resonants). اکثره هغه آوازونه چه په ژبه کې استعمالېږي له دغو درو ډلو څخه په يوه ډله کې شاملېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| manner of articulation د آواز د اداکولو ډول ↓ | | position of articulation د آواز د اداکولو ونوځۍ → | bilabial شونډنيز | labiodental شونډنۍ غاښنيز | dental غاښنيز | alveolar اوریېنز | retroflex غبرګ ژبنۍ | alveopalatal اوري تالوينز | palatal زړین تالوينز | velar نرم تالوينز | uvular ژبکۍ پېنز | labiovelar شونډنيز تالوينز | pharyngeal حنجرېنز | glottal ستونيز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| STOPS انسدادي | Simple ساده | ١- بې ږغه | p | p̪ | t̪ | t | ṭ | | k̯ | k | q | k͡p | | ʔ |
| | | ٢- ږغن | b | b̪ | d̪ | d | ḍ | | g̯ | g | | g͡b | | |
| | aspirated نفسي | بې ږغه | pʰ | | | tʰ | | | | kʰ | | | | |
| | | ږغن | bʰ | | | dʰ | | | | gʰ | | | | |
| | glottalized ستونيزسوي | بې ږغه | p' | | | t' | | | | k' | | | | |
| | | ږغن | | | | | | | | | | | | |
| | affricated موښتلي | بې ږغه | | | | ¢ | | č | | | | | | |
| | | ږغن | | | | z | | ǰ | | | | | | |
| | laterally affricated اړخيزموښتلي | بې ږغه | | | | ƛ | | | | | | | | |
| | | ږغن | | | | λ | | | | | | | | |
| | Prenasalized غنه سوي | بې ږغه | ᵐp | | | ⁿt | | | | | | | | |
| | | ږغن | ᵐb | | | ⁿd | | | | | | | | |
| | implosive د ننه خواته وازیدونکي | بې ږغه | | | | | | | | | | | | |
| | | ږغن | ɓ | | | ɗ | | | | | | | | |
| FRICATIVES احتكاكي | slit هوار | بې ږغه | | f | θ | | | | | x | | | | h |
| | | ږغن | γ | v | ð | | | | | ɣ | | | ɛɕ | ɦ |
| | groove غوږ | بې ږغه | | | | s | ṣ | š | | | | | | |
| | | ږغن | | | | z | ẓ | ž | | | | | | |
| | lateral اړخيز | بې ږغه | | | | ł | | | | | | | | |
| | | ږغن | | | | | | | | | | | | |
| RESONANTS طنطنه لرونكي | lateral اړخيز | بې ږغه | | | | | | | | | | | | |
| | | ږغن | | | | J | | ʎ | | | | | | |
| | nasal غنه يي | بې ږغه | m̥ | | | n̥ | | | | | | | | |
| | | ږغن | m | ɱ | n̪ | n | ṇ | ň | ŋ̣ | ŋ | ŋ̣ | | | |
| | median منځني | بې ږغه | w̥ | | | | | y̥ | | | | | | |
| | | ږغن | w | | | r | | y | | | | | | |
| FLAPS پرېبېدونكي | | بې ږغه | | | | | | | | | | | | |
| | | ږغن | | | | ř | | | | | | | | |
| TRILLS رپېدونكي | | بې ږغه | | | | r̥̃ | | | | | | | | |
| | | ږغن | | | | r̃ | | | | R | | | | |

voiced : ٢- ږغن　　　Voiceless : بې ږغه :١

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسدادي آوازونه هغه آوازونه دي چه داداکولو په وخت کي يي مخرج تپ - وترل سي او دهوا جريان بند سي ، خود مخرج دترلو څخه وروسته دفعتاً مخرج وپرانيستل سي او په دې توګه يو انسدادي آواز توليد سي . لکه د (ت) يا (پ) آواز . دانسدادي آواز مهم خاصيت دادی چه د مخرج ترل يي داحتکاکي او تنتنه لرونکو آوازونو په توګه دوام نه کوي . احتکاکي هغه آوازونه دي چه دهغوی داداکولو په وخت کي په صوتي وتونځي کي احتکاک پيښ سي لکه د (س) يا (ز) آوازونه . تنتنه لرونکي آوازونه هغه آوازونه دي چه دهغوی داداکولو په وخت کي په صوتي وتونځي کي نه احتکاک پيښيږي او نه دانسدادي آوازونو په څېر دمخرج ترل او دفعتاً پرانيستل واقع کيږي ، بلکه دا هغه آوازونه دي چه په حنجره (larynx) کي پيدا سوي وي او وروسته د خولې او پزې په واسطه يو ډول اوبل ډول کيږي لکه د (ن) يا (م) آوازونه .

برسېره پر نومو روړ دولو يو ډلو دوه ډوله نور آوازونه هم په ژبو کي پيښيږي چه يو ډول يي پړپېدونکي (Flaps) او بل ډول يي رپږدېدونکي (trills) آوازونه نوميږي . پړپېدونکي هغه آوازونه دي چه د ژبي د يوه ډېرچټک حرکت په واسطه اداکيږي چه کله کله ديوه ډېرلنډ انسدادي آواز سره شباهت لري ، او - رپږدېدونکي آوازونه هغه آوازونه دي چه د ژبي ، شونډانو يا ژبله د ډېرو چټکو حرکاتو په واسطه اداکيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دآوازونو ډولونه

آوازونه په عمومي ډول پر دوو برخو وېشل کېږي : کانسونېنټونه او واولونه .

کانسونېنټ (Consonant) هغه آوازته وايي چه د هغه دادا کولو په وخت کي د صوتي غړو د تماس له امله د هوا په هغه جريان کي چه د هغه د ادا کولو په وخت کي له خولې يا پزې يا د غوږ وار ولاړ وشخه راوزي انسداد، احتکاک يا کوم بل ډول بندش پېښېږي . لکه د (ب) يا (پ) دادا کولو په وخت کي چه د دوو شونډو د تماس له امله د هوا په جريان کي بندش واقع کېږي . يا لکه د (چ) يا (ج) دادا کولو په وخت کي چه د ژبې او اوري تماس د هوا په جريان کي بندش راولي . که دوه يا زيات کانسونېنټونه په يوه سيلاب کي متصل سره راسي او دوی په منځ کي واول نه وي کلسټر (cluster) يې بولي . لکه په پردی کي (پ) او (ر) او په آزموينت کي (ښ) او (ت) .

واول (vowel) هغه آوازته وايي چه د هغه دادا کولو په وخت کي د صوتي غړو ترمنځ داسي تماس نه پېښېږي چه د هوا په جريان کي انسداد او بندش واقع سي ، خو د ژبې او شونډو د مختلفو حرکاتو له امله د خولې داخلي برخه بېل بېل شکلونه پيدا کوي چه په دې توګه واولونه يو له بله څخه په منځ کي توپير پيدا کوي لکه په لاس ، ډېر او سوړ کي د ( ا ، ې ، و ) آوازونه .

د پښتو کانسونېنټونه او واولونه په لاندي ډول دي :

الف : کانسونینتونه :

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ب | b | ځ | dz | ژ | ž | ګ | g |
| پ | p | خ | x | ږ | ẓ | ل | l |
| ت | t | د | d | س | s | م | m |
| ټ | ṭ | ډ | ḍ | ش | š | ن | n |
| ج | j | ر | r | ښ | ṣ | ڼ | ṇ |
| چ | č | ړ | ṛ | غ | g | ه | h |
| څ | ts | ز | z | ک | k | | |

ځیني عربي کلمې په پښتوکې استعمالیږي . دغه عربي کلمې ځیني داسې عربي آوازونه لري چه په پښتوکې نسته . نو هرکله چه دا عربي آوازونه په پښتوکې تلفظ کیږي په عمومي ډول په هغو پښتو آوازونو سره تبدیلیږي چه دغو عربي آوازونو ته نږدې والی ولري . لکه ف > پ ، ق > ک یا خ ، ث > س او داسې نور ....
نوموړي عربي آوازونه دادي :

ث s̲ ، ح h̲ ، ذ z̲ ، ص ṣ ، ض ẓ ، ط t̲ ، ظ z̄ ، ع ʔ ، ...
ف f ، او ق q .

په ځینو ژبوکې ځیني آوازونه دي چه کله کله د کانسونینټ او کله کله د واول په ډول اداکیږي . په پښتوکې دوه آوازونه دي چه کله کله د هجا هسته تشکیلوي او د واول په توګه څرګندیږي ، خو ځیني وخت د هجا هسته نه تشکیلوي او د کانسونینټ په



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول اداکیږي . نوموړي دوه آوازونه دادي :

و (W) : لکه په (کنډو = Kandáw) او (ولور = Walwár) کې.

ی (Y) : لکه په (یخی = yaxáy) او (آګی = agáy) کې.

## ب : واولونه Vowels

و (o) : لکه په (نور = nor) او (پور = por) کې.

ُ (u) : لکه په (پل = pul) او (سور = sur) کې.

و (ū) : لکه په (نورو = nūru) او (تورو = tūru) کي لوموړي واوونه.(۱)

ي (i) : لکه په (ځیر = dzir) او (پیر = pir) کي.

ي (ī) : لکه په (کیږي = Kīzi) کي لومړی (ي).(۲)

ې (e) : لکه په (ډېر = der) او (شمېر = šmer) کي.

زورکی (ə) : لکه په (زړه = zrə) او (لېوه = lewə) کي.

اَیا زور (a) : لکه په (اړخ = arx) او (سر = sar) کي.

آ (ā) : لکه په (کار = Kār) او (آس = ās) کی.

دادی اوس به د پښتو یو متن د کندهار ، بل متن د ننګرهار او یو بل متن د پېښور په لهجو د نوموړو سیمبولونو په واسطه د نمونې په توګه ولیکو . د مخه تر دې چه نوموړي متنونه ولیکو باید وویل شي چه دخج (stress) راوړل اونه راوړل او بدلون ندیوازې په پښتو بلکه د نړۍ په ډېرو ژبو کې د کلمو و معنی ته تغییر ورکوي . مثلاً په (پرېوتم او کېنېښستم)

(۱) : په نوموړو کلمو کې داسې (و = ū) د کندهار په لهجه کی راځي . (۲) په نوموړې کلمه کې داسې (ی = ī) د کندهار په لهجه کی راځي .

کي که خج پر لومړي سیلاب باندي راسي یوه معنی لري او که د پای پر سیلاب باندي راسي بله معنی ورکوي . نو ځکه په لاندي متنونو کي د خج رعایت هم کوو او هغه د یوې داسي علامې (٘) په ډول د سیلابونو پر سر باندي ایږدو . دا هم باید ووېل سي چه دا متنونه ځکه چي د لیک له مخې لیکل سوي دي نو ممکن په ځینو ځایونو کي د لهجې پوره نماینده ګي ونه کړای سي .

دښاغلی بېنوا په قلم                                        دکندهار لهجه

# یوازي پښتو

دا لوست په یوازي پښتو لیکم ، چه د بلې ژبې یو توری پکښي نسته . هو کې ! د ژبي سنه والی هم دغه دی چه هره ژبه بنا یي دومره اړه ونه وي ، چه د ژبي خښتن هر راز د زړه وینا په خپله ژبه و نه وېلای سي . که څه هم ژبي یو د بله و مرستي ته سره اړې دي او یوازي کومه ژبه بشپړه نه لیدله کیږي ، بیا هم ځیني ژبي له خپله ځانه دونده وینا وي او توري لري چه خښتن یې مړني وي نو په لږ زیار د پردو له اړې څخه وزي.
دعربو ژبه هغه ژبه ده چه د نړۍ د ژوندیو اولویو ژبو څخه بلله کیږي . خو سره له دغه هم ځیني پردي توري پکښي سته چه د دغې ژبې پوهانو راښوولي دي . دغسي هم د اوسني ژوندي نړۍ لویې ژبي لکه انګریزي او فرانسوي یا نوري ژبی پردي لاتیني یا یوناني توري پخپل منځ کښي لري . پا رسو هم یوه خو زه

ژبه ده چه دا زړه کاله راهیسې د مېړنیو مشرانو تر سیوري لاندي پې روزنه کیږي.
خو سره له دې د ونه روزني هم ویوازي پاړسو لیکلو ته بیچ نه لیدل کیږي ، او ډېره
به ډېر نه وي چه یوازي پاړسو ولیکله شي ، هر ومرو به وعربي ژبي ته اړ شوا وکړه نه
یوه لیکه یا دوې ډېرې لیکي به په زیار ولیکلي سي .

له ښه مرغه زموږ پښتو ژبه ډېره اړته ده . موږ که لږ څه زیار وکاږو ، نو په خپله ژبه به هر څه په یوازي پښتو ولیکو . که څه هم موږ اړ ندیو چه هر ومرو به یوازي پښتو ولیکو . د نړۍ ټولي ژبي یوه د بلې په مرسته بشپړه کیږي ، خو بیا هم دا د ژبي ښه والی دی چه یوه ژبه دوني اړته وي او — دومره توري ولري چه د بلې ژبي له اړې څخه ووزي . دا څرګنده ده چه زموږ پښتو ژبه د هر څه د پاره بېل بېل توري لري او د لویو غرو په لمنو کښې د سپینو پښتنو په زړو کښې ښخ دي . که څوک پلټنه پسې وکړي ، ډېري وینا وي او ډېر توري به ومومي چه اوس نښته یا موږ ته څرګند نه دي .

## — د نوموړي مضمون فونیمیکي بڼه —

## yawā́zi paṣtó

*dá lwə́st pə yawā́zi paṣtó likám či də bə́li žə́bi yáw ṭórəy pəkṣi nə́stə. hóke! də žə́bi ṣəwā́ləy həm dagā́ (dəyu) či hára žə́bə ṣā́yi dúmrə árta wi či də žə́bi tsaṣtán*

(c) ketabton.com: The Digital Library

har rāz də zṛə́ waynā́ pə xpálə žába wayə́lāy si. ka tsə ham žā́bi yaw də balə wə mrásti tə sara ā́ṛi di aw yawā́zi kuma žába bášpəṛə ná lídələ kī́ẓi, byā́ ham dzíni žā́bi lə xpálə dzā́na dona waynā́wi aw tū́ri larí či tsaṣtán ye maṛanáy wi, no pə ləẓ zyā́r də pradó lə aṛáy tsəxə wā́zi.

də ʔarábu žába hága žába də či də naṛəy də žwandáyu aw lwáṛu žā́bu tsəxə baləlá kī́ẓi. xu sará lə daga ham dzíni pradí tū́ri pakṣi stá či də dā́gi žā́bi pohā́nu rāṣowəli di. dagási ham də osanā́y žwandáy naṛay lwáṛi žā́bi lákə angrezí aw farā́nsawi yā nū́ri žā́bi pradí lā́teni yā yonā́ni tū́ri pə xpál mándz kṣi lərí. pāṛsó ham yawa xwaẓá žába də či dā zər kā́lə rā́hisi də meṛənā́yu mašarā́nu tər syóri lā́ndi ye rozā́nə kī́ẓi. xu sará lə de dóna rozā́ni ham wə yawā́zi pāṛso ʔikā́lu tə bič na lidəl kī́ẓi, aw ḍérə bə draná wi či yawā́zi pāṛsó walikalə si. harú marú bə wə ʔarabí žā́bi tə aṛ su aw kə nə yawá líkə yā dwe dre líki ba pə ḍer zyā́r walikali si.

lə ṣə márgə zmúẓ paṣtó žába ḍerə ártə də. muẓ kə láẓ tsə zyā́r wákā́zu, no pə xpálə žábə bə har tsə pə yawā́zi paṣtó wáliku. kə tsə ham muẓ aṛ nə yu či harú marú

(c) ketabton.com: The Digital Library

ba yawā́zi paṣtó likú. da naṛay ṭóli žábi yawa da báli pa — mrasta bašpaṛa Kižzi, xu byā́ ham dā da žabi ṣawā́ləy day či yawa žába dóni árta wi aw dúmra tū́ri wálari či da báli žábi la aṛay tsaxa wawzi. dā tsargánda da či zmúẓ paṣto žaba da har tsa dapā́ra bel bel tū́ri ʔarí aw da lū́yu gró pa ʔamánu kṣi da spínu paṣtanó pa zṛó kṣi ṣax di. ka tsók palaṭána pasi wákṛi, déri waynā́wi aw ḍer tū́ri ba wámumi či os násta yá muẓ ta tsargánd ná di.

د ننگرهار لهجه — د ښاغلي الفت په قـلـم

# دکوم ځای دی ؟

یوکوربې دلته دی ، بل په کابل کې ، بل په یو بل ځای کې . څه ځمکه په کوهدامن کې لرې ، څه په بغلان کې ، څه په یو بل ځای کې . نغدې روپۍ یې په رشوتونو دلته پیدا کړې ، مگر کېږه وربانډې نور بانکونه کوې په یو بل ځای کې . نو وایه چه دی دکوم ځای دی ؟

مینه یې له دې خلکو سره نشته ، او دنورو ملکونو خلک ورته ډېر گران دي . ددې ځای ژبه یې نزده او په پردیو ژبو افتخار کوي . ددې وطن له شعرا و موسیقی نه خوند نه اخلي او دخارجي موزیک په صفت مړېږی نه . مونږ ته په نخوت او نفرت گوري او دپردیو مستخد مینو په مقابل کې ډېره تواضع کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ووایه چه دی د کوم ځای دی ؟

دی د هیڅ ځای نه دی ، ځکه چه هر ځای د ده دی او سړی ورته هر ځایي ویلی شي . هو ! دا هغه مرغه دی چه څلور فصلونه په څلورو مملکتونوکي تېروي او وطن نه لري . وطن نه پېژني ، د یوه وطن په هواکي نه الوزي او د وطن سرېا او تودې نه شي تېرولی .

دا هغه عیاش دی چه بې له عیش و راحت نه نور څه نه پېژني او له وطن سره هیڅ مینه او علاقه نلري .

مونږ هغه کسان ددې وطن بللی شو چه د وطن په کالو او بوټو سر ورکوي او په سختو ورځو کي د وطن په کار ېږي . که څه هم پوله او پټی نلري ، او په زړه وکوډلو او جونګړو کي اوسي .

هو ! زما په عقیده دا وطن د هغه چا نه دی چه د ډېرو ځمکو قبالې یې اخیستې دي . بلکه د هغه چا دی چه د وطن مینه یې په زړه کي ده او له وطن سره علاقه لري .

د نوموړي مضمون فونیمیکی بڼه

## da Kúm dzāy day?

yaw Kor ye dálta day, bəl pa Kābul Ke, bəl pa yaw bəl dzáy Ke. tsə dzmáKa pa Kadāmán Ke lari, tsə pa Baglán Ke, tsə́ pa yaw bál dzāy Ke. nágde rupáy ye pa rišwatúno dálta paydā́

Kṛe, mágar gáṭa wərbā́nde nor bānKúna Kawí pa yaw bəl dzā́y Ke. tə wáwāya či day da Kúm dzā́y day ?

mína ye lə de xálKo sara nášta, aw də nóro mulKúno xálK wərta ḍer grā́n di. də de dzā́y žəba ye názda aw pə pradáyo žəbo iftixā́r Kawí. də de watán lə šer aw mosiqí na xwánd nə áxli aw də xāri̇jí mozíK pə sifát maṛézi na. múnẓ tapə naxwát aw nafrát góri aw də pradáyo mustaxdimíno pə moqābil Ke ḍéra tawāzó Kawí.

tə wáwāya či day də Kum dzā́y day ?

day də héts dzā́y nə day, dzáka či hár dzā́y də də day aw saṛay warta hardzāyí wayálay ši. ho! dā́ haga margá day či tsalór faslúna pə tsalóro mamlakatúno Ke terawí aw watán nálari. watán na péžani, də yawá watán pə hawā́ Ke nə álwuzi aw də watán saṛé aw tawdé náši terawálay.

dā́ háḡa ayā́š day či bé lə áyš u rāhát na nór tsə na péžani aw lə watán sara héts mína aw alāqá nálari. munẓ haga Kasā́n də dé watán balálay šu či də watán pə Kā́ṇo aw búṭo sár warKawí aw pə sə́xto wrádzo Ke də watan pəKā-réẓi, Ka tsá ham púla aw paṭáy nalari, aw pə zaṛó Koḍə́lo aw

jongáro ke ósi.

ho! zmā́ pə aqidá dā watán də haqə čā nə day či da déro dzmáko qabālé ye axíste di. bálke də haqə čā day či də watán mína ye pə zrə ke da aw lə watán saraatəgá lari.

دپېښور لهجه :

## دسړو تعويذ (۱)

يوه شپه شمروز يوځوا جرتي قاتلان دجميلې په کور ورخطا کړل . ډاکه پرېوته . صابره او جميله دواړه په کښې مړې شوې . شمروز دخپلې ورېرې او دبوډۍ په مرګ دمکر ډېر ويرا وژړا اوکړه . پوليس خپل تفتيش کښې ډېر په اخلاص سره کار اوکړو ، ولې هيچا هم دريښتيا وشهادت ته غاړه نه کېښوده . اونتيجه دا شوه چه شمروز په يوځو ورځوکښې دخپل مشر ورور په خانۍ کېناستو . خودنا صر په بيچ کېدو يې په زړه کې غټه بوغمه پاتې شوه . په خواوشا کلو کښې يې ډېر کوشش ورپسې اوکړو ، ولې هيڅ پته يې اونه لګېده . ماشوم ناصر دخپل وطن نه ډېر لرې يو لوی ښار ته اوړ سېدو . يوه شپه چه ډېر ستړی شو ، نو چرته په يوه باغيچه کښې ديو بينچ دپاسه اوده شو . دا باغيچه دلوی کاروبارې تاجر په کور کښې وه . سحر وختی چه دکور مالک سېټ رحمان دسېل دپاره بهرتلو ، نو په باغيچه کښې

---

(۱) : دا مضمون دښاغلی رشيدعلی دهقان اثر او دښاغلی جهان زيب نياز پېښوری لهجه ده .

يې د خپل كور نه خطا شوې ماشوم اوليد وچه لاهغه شان بې غمه اوده پروت
وه ، بنګلې ته لاړو او سره د خپل ټبره بيرته هغې ځاى ته راغلو چرته چه هغه ـ
ماشوم لاهغه شان اوده وه .

والي چه ددې سبېټ يوزوى وه چه ډېر ښكلى وه او هم
لكه ددې ماشوم وه . دوى ته خپل مړ شوى زوى ورياد شو ، د دواړو په سترګو كښې
اوښكې وې . دواړه ساه نيولې دماشوم په خوا كښې غلي ولاړ وو چه په دې كښې
ناصر هم له خوبه بېدار شو . او تراوتره يې كتل او بيا په رتو رتو په ژړا شو .
د سبېټ ټبر ناصر خپلې سينې ته جخت كړو .
دواړو ژړل ، خو دواړه نه پوهېدل چه د دوى د ژړا وجه څه ده . سبېټ رحمان
ناصر په غېږه كښې اوچت كړو او سره د خپل ټبره كمرې ته لاړل .

## د نوموړي مضمون فونيميكي بڼه

## da sró ṭawíz

yawá špá Šamróz yaw so ujrati qātilān da Jamilé pa Kor warxatā́ Kṛəl. ḍāKá préwata. sābirá aw Jamilá dwā́ṛa paKé mṛé šwe. Šamróz da xpā́le wreré aw da buḍé pa márg da məKər ḍér wir aw jaṛā́ óKṛa. pulís xpə́l taftíš Ke ḍéŕ pa ixlā́s sara Kā́r óKṛo. wā́le hécā hum da

(c) ketabton.com: The Digital Library

riṣ̌tiáo ṣ̌ahādát ta gā́ṛa ná Kexoda. aw natijá dā́ ṣ̌wače Ṣ̌amróz pa yaw só wrádzo Ke da xpə́l má̌sar wrór pa xāné Kénāsto. xo da Nāsár pa bač Kedó ye pa zṛə Ke gā́ṭa bogmá pā́te ṣ̌wá. pa xwā́ u ṣ̌ā Kálo Ke ye ḍér Koṣ̌íṣ̌ wárpase óKṛo, wále hés pā́ta ye onálageda. mā́sūm Nāsə́r da xpə́l watán na ḍer lə́re yaw lwé xār ta órasedo. yawá ṣ̌pá či ḍer stə́ṛe ṣ̌o. no čárta pa yawa bāgičá Ke da yaw binč da pā́sa odá ṣ̌o. dā bāgičá da lwé Kārubāri tājir pa Kór Ke wá. sahár waxti če da Kor mālik séṭ Rahmā́n da sél da pā́ra bahár tló, no pa bāgiča Ke ye da xpəl Kor na xatā ṣ̌əwe mā́sūm ólido, če lā hága ṣ̌ān begáma udə prot o. banglé ta lā́ṛo aw sará da xpə́l ṭabára byérta hage zé ta rā́glo čárta če haga mā́sūm lā hága ṣ̌ān udá o.

wā́yi če da dé seṭ yaw zwé wo, če ḍér xKúle o aw hum láKa da dé mā́sūm wo. dwi ta xpə́l mə́ṛ ṣ̌áwe zwé waryā́d ṣ̌o, da dwā́ṛo pa stə́rgo Ke úxKe we. dwā́ṛa sāniwā́li da mā́sūm pa xwā́ Ke gə́li waṭā́ṛ wu, če pə de Ke Nāsár húm la xóba bedā́r ṣ̌o. awtár awtár ye Katə́l, aw byā́ pa rā́ṭo rā́ṭo pa jaṛā́ ṣ̌o. da seṭ ṭabár Nāsə́r xpale siné ta júxt Kṛo. dwā́ṛo jaṛə́l, xo dwā́ṛa ná poedə́l če da dwí da jaṛā́ wája sə́ da. seṭ

*Rahmā́n Nāsər pa gega Ke učát Kṛo, aw sará da xpə́l ṭabára Kamré ta lā́ṛəl.*

# فونیتیکس او فونیمیکس

ژبه د هغو آوازونو مجموعه ده چه تر یو خاص نظم او سیستم لاندې په خبرو کې استعمالیږي. دا آوازونه په خوله، پزه او ستوني کې اداکیږي او بیا له هغوی څخه کلمې او جملې جوړیږي چه په دې توګه انسانان یو له بله د هغوی په واسطه خپل مطالب سره اداکوي. که څوک وغواړي چه یوه داسې ژبه مطالعه کړي چه دده نه وي زده نو دی مجبور دی چه تر ټولو دمخه د هغې ژبې آوازونه مطالعه کړي. دا انسان په صوتي غړو کې یو څو محدود غړي دي چه د آوازونو داداکولو په وخت کې ښوري او حرکت کوي. که سړی د نومړو ښوریدونکو صوتي غړو په بېلو بېلو حرکتونو کې مشق او تمرین وکړي او د هغوی د حرکتونو په اجراکولو کې چه د آوازونو داداکولو په وخت کې اجراکیږي پوره مهارت او استعداد پیدا کړي، نو دی کولای سي چه د هرې ژبې بېل بېل آوازونه اداکړي. دا ځکه چه د ټولو ژبو آوازونه د دغو ښوریدونکو صوتي غړو د حرکاتو په واسطه چه د نه ښوریدونکو صوتي غړو سره یو ځای کیږي، اداکیږي.

که سړی داسې یو فارمول راوباسي چه د هغه فارمول له مخې د ښوریدونکي صوتي غړي حرکت او د هغه رابطه له نه ښوریدونکي صوتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږي سره وښوول سي نو سړی به وکولای سي چه دیوله دغسی فارمولونو په واسطه دیوې ژبې آوازونه وښیي . او فونیټیکي الفبا هم په حقیقت کي د دغسی فارمولونو یوه مجموعه ده . د مثال په توګه د "ب" سیمبول د سرو حرکت ښیي چه هوا ولوړتي خواته پوري وهي . دغه هوا هر کله چه له ستوني څخه وخولې ته راوزي بغیږمزي رلوي . نو موړی سیمبول (ب) دا هم ښیي چه د هوا د جریان په وخت کي د پزې لار تړلې وي او هوا د خولې له لاري جریان پیدا کوي ، خو د شونډانو دیوځای کېدو په واسطه یو ځل بندش پیدا کوي او وروسته ناڅاپه له خولې څخه وزي .

له نوموړي بیانه څخه څرګندېږي چه هغه آوازونه چه په خبرو کي استعمالېږي د هوا د جریان او د صوتي غړو د حرکاتو او د هغوی دیوځای کېدو څخه پیدا کېږي ، چه دا ټول د فونیټیکس (Phonetics) موضوع تشکیلوي .

په فونیټیکس کي آوازونه په دوه ډوله سره مطالعه کېږي :
یو دا چه آوازونه د ښو رېدو وکو صوتي غړو د حرکاتو او د نه ښو رېدو وکو صوتي غړو سره د هغوی دیوځای کېدو په ترڅ کي مطالعه سي . د فونیټیکس دا برخه آرټیکولیټوري فونیټیکس (Articulatory Phonetics) بولي . بل دا چه آوازونه د آوازونو د امواجو له مخي چه وروسته تر هغه چه د صوتي غړو په واسطه اداشي او له خولې څخه راووزي مطالعه سي . د فونیټیکس دا برخه اکوستیک - فونیټیکس (Acoustic phonetics) بلله کېږي .

فونیمیکس د ژبپوهنې هغه برخه ده چه په هغه کې د فونیمونو څخه بحث کیږي . په فونیمیکس کې فونیمونه او د هغوی تجزیه او دسته بندي تر څېړنې لاندې نیول کیږي .

فونیتیکس او فونیمیکس د ژبپوهنې دوې څانګې دي چه په هغوی کې د ژبې آوازونه مطالعه کیږي . نو ددې له امله دوی یوله بله سره نږدې اړیکې لري . مګر څکه چه په فونیتیکس کې د آوازونو یو اړخ او په فونیمیکس کې د آوازونو بل اړخ تر څېړنې لاندې نیول کیږي نو ښایي چه دا دوې څانګې یوله بله بېلې سره وساتل شي او د هغوی موضوعات یوله بله سره ګډ نشي .

په فونیتیکس کې آوازونه د صوتي غړو د یو ځای کېدو او د هغوی د حرکاتو له مخې چه د نوموړو آوازونو د تولید په وخت کې اجرا کیږي په ډېر دقیق ډول سره مطالعه کیږي او د هر آواز له پاره یو داسې سیمبول ټاکل کیږي چه یوازې هماغه آواز وښیي . د غسې سیمبولونه د فونیتیکي الفبا په نامه سره یادیږي. مګر په فونیمیکس کې ممکن یو سیمبول متعدد آوازونه چه ټول د یوه آواز غړي وي وښیي . مثلاً که په کومه ژبه کې یو فونیم څو الوفونه ولري (د فونیم بحث وګوری) په فونیتیکس کې د نوموړي فونیم هر الوفون د یو بېل سیمبول په واسطه ښوول کیږي. مګر په فونیمیکس کې د نوموړي فونیم د ټولو الوفونو لپاره یوازې یو سیمبول استعمالیږي او د غه فونیمیکي سیمبولونه دي چه د یوې ژبې الفبا تشکیلوي . د مثال په توګه د پند او توپ . پ ګانې چه لومړی (پ) نفسي او وروستی (پ) بې نفسه (پ) ده — (د فونیم بحث وګوری) د فونیتیکي الفبا له مخې ممکن په دې ډول سره ولیکل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پند = pʰand ، توپ = top' . په نوموړو کلموکي چه نوموړي دوې
پ گاني یو فونیم تشکیلوي او دواړه دیوه فونیم الوفونونه بلل کیږي ، ده یوه له
پاره بیل بیل سیمبول راغلی دی . مګر د فونیمیکي الفبا له مخې ځکه چه نوموړي دواړي
پ ګاني دیوه فونیم غړي دي او یو فونیم تشکیلوي نو لوازي دیوه سیمبول ( P )
په واسطه ټول الوفونونه ښوول کیږي او نوموړي کلمې په دې توګه لیکلي کیږي:
پند = pand ، توپ top.

# فونیم (phoneme)

که د ژبې آوازونه په ډېر دقیق ډول تر غور لاندې ونیسو ، له داسې آوازونو
سره مخامخ کیږو چه هغه یو آواز په بېلو بېلو ځایونو کې په بېلو بېلو ډولونو سره ادا
کیږي . د مثال په توګه د (پ) آواز د (پند) یا (پل) په کلمو کې دغسې نه
اداکیږي لکه د (توپ) یا (چپ) په کلمو کې . ځکه چه د لومړیو دوو کلمو د (پ) د
اداکولو په وخت کې له (پ) سره یو څه هوا په شدت سره راوځي او په دې ډول یو
نفسي آواز (aspirated sound) ځني جوړیږي . مګر د وروستنیو دوو کلمو
د (پ) د اداکولو په وخت کې د هوا جریان په دوني شدت سره نه راوزي چه یو
نفسي آواز ځني جوړ سي . دا حقیقت به هلته په ښه ډول څرګند سي چه
دیوه کاغذ پا ڼه وخولې ته نږدې ونیسو یو ځل لومړی دوې کلمې (پند او پل) او
بیا دوهمي دوې کلمې (توپ او چپ) تلفظ کړو . په دې توګه به ښکاره سي چه د -

لومړیو کلمو د (پ) د اداکولو په وخت کي د کاغذ پاڼه د هوا د جریان څخه ځکه چه شدت لري متأثره کیږي ، او ښوریږي . مګر د وروستنیو کلمو د (پ) د اداکولو په وخت کي ځکه چه د هوا جریان بندیږي نو کاغذ هم نه متأثره کیږي او نه يې سې ښوریږي ولاړ . دغه رنګه (د) یوانسدادي ږغن آواز دی چه د هغه د اداکولو په وخت کي ږغیزمزي ریږدیږي او د دغه آواز د ږغنتوب سبب ګرځي . مګر په داسې کلمو کي لکه (دود) یا (درد) لومړي دالونه چه د دغو کلمو په سر کي راغلي دي هاغسې نه اداکیږي لکه د نوموړو کلمو وروستني دالونه . یعنی لومړي دالونه ډیر ږغن (voiced) دی او وروستني دالونه لږ ږغن دي . په انګریزي کی (S) چه د ځینو مفرد دونومونو په پای کي راسي جمع ځني جوړیږي مګر تلفظ يې یو ډول ندی . د مثال په توګه (S) په داسې کلمو کي لکه : (books) یا (lips) په (س) سره اداکیږي ، خو په داسې کلمو کي لکه (eggs) یا (hands) په (ز) سره تلفظ کیږي .

د پښتو د لومړي مثاله څخه څرګندیږي چه که په پښتو ژبه کي (پ) د کلمې په سر کي راسي او حرکت ولري (وروسته يې واول راغلی وي) نفسي آواز ځني جوړیږي او که په پای کي راسي بې نفسه آواز ځني جوړیږي . دغه رنګه د پښتو له دوهم مثال څخه څرګندیږي چه که دال د کلمې په سر کي تر واول د مخه راسي ږغنتوب يې ډیر وي او که په پای کي راسي ږغنتوب يې لږ وي . او د انګریزي ژبي په مثال کی د books او lips په کلمو کي ځکه چه (S) په بې ږغه آوازونو (K او P) پسې راغلی دی نو

بې ږغه ( voiceless ) یعنې په (س) سره تلفظ کیږي او د hands او eggs
په کلمو کې ځکه چه ( s ) په ږغناو آوازونو ( d او g ) پسې راغلې دی نو ږغن
یعنې په (ز) سره تلفظ کیږي[1].

له پورتنی بیانه څخه یو بل تکی هم څرګندیږي ،
هغه داچه آوازونه په یوه ژبه کې کله کله د موقعیت له امله توپیر پیدا کوي او کله
بیا د خپل د مخنی یا وروستني محیط څخه متأثره کیږي . او ځکه چه د نړۍ ژبې د
ساختمان او آوازونو له امله یوله بله سره توپیرلري نو هغه عوامل چه د هغوی پر
آوازونو باندې تأثیر کوي هم توپیرلري او یوله بله سره بیل وي . دغه آوازونه
چه په حقیقت کې یو آواز وي مګر د ځینو عواملو په نسبت کله یو ډول او کله بل ډول
تلفظ کیږي د ژبپوهنې علما ( د ژبې د عناصرو د استعمال مشخصوالی =
complementary distribution) اصطلاح ورته راوړي . مثلاً په پورتنیو مثالونو
کې په لومړي مثال کې نفسی (پ) او بې نفسه (پ) د استعمال مشخص ځایونه
لري . یا په بل عبارت په هغه ځای کې چه نفسی (پ) راځي بې نفسه (پ) نسي
راتلای ، او په هغه ځای کې چه بې نفسه (پ) راځي نفسي (پ) نسي راتلای یعني
په پښتو کې د کلمې په سر کې تر واول د مخه همېشه نفسي او د کلمې په پای
کې همېشه بې نفسه (پ) راځي .

له پورتني بیان څخه یو بل مطلب هم لاس ته راځي او

---

(۱) : داهم باید و وېل سي چه نوموړي نتیجې موږ یوازې د نوموړو مثالونو له مخې وا خیستلې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دادی چه آواز (فونیم) یو واحد شی ندی بلکه اکثره آوازونه د آوازونو مجموعه (sound unit) ده . یعنی څو ډوله آوازونه سره یوځای کیږي او بیا یو - آواز څني جوړیږي چه ودغه یوه آواز ته په ژبپوهنه کي فونیم (phoneme) وایي . او د فونیم و هرغړي ته الوفون (allophone) وایي . مثلاً په لومړي مثال کي د پند (پ) یو ډول او د توپ (پ) بل ډول آواز دی . دا دواړه آوازونه یوځای یو فونیم تشکیلوي خو په بېل ډول بیا هر یوه ته الوفون وایي . نو په دې توګه ویلای سو چه په پښتو کي د (پ) فونیم دوه الوفونه لري . یو نفسی (پ) او بل بې نفسه (مپ) . په یاد لری چه نوموړې نتیجه موږ یوازې د نوموړو دوو مثالونو په اساس اخیستې ده او که زیات تحقیق وسي ممکن په پښتو کي د (پ) فونیم نور الوفونونه هم ولري .

## مُورفیم morpheme

د مورفیم تعریف د ژبپوهنې د علماو ولخوا په بېلو بېلو ډولونو سره سوی دی . که د مورفیم د تعریف له جزئیاتو څخه سترګې پټې کړو نو دیوې ژبې په خبرو کي بیخي کوچنی صوتي واحد چه معنی ولري مورفیم بلل کیږي . د مثال په توګه دا خبره وګورئ : زه راغلم چه د خلکو تبکې اداکړم (zəraāglamčidəxalkunekiadā - -Krəm) په پورتنۍ خبره کي هغه بیخي کوچنی صوتي واحدونه چه معنی لري په لاندې ډول سره بېلولای سو :

| | | |
|---|---|---|
| 1. zə زه من | 5. či چه که | 10. i ي لاحقهٔ رسمي |
| 2. rā را طرف متکلم | 6. də د اضافت | 11. adā ادا ادا |
| 3. gl غل حرکت کردن | 7. xalk خلک مردم | 12. Kṛ کړ فعل کردن |
| 4. əm م واحد متکلم | 8. u و لاحقهٔ حالت غیر صلي | 13. əm م واحد متکلم |
| | 9. nek نیک خوب | |

د پورتني خبري مورفیمونه چه په غور سره وګورو د موقعیت او ځینو نورو خصوصیتو نوله امله سره یوشی ندي او یوله بله سره تو پیر لري . مثلاً دریم، اووم او نهم داسي مورفیمونه دي چه د ریښې حیثیت لري او که نور مورفیمونه پوري ونښلي هم دوی خپل اصلیت او مرکزیت له لاسه نه ورکوي . دغسي مورفیم ته ریښه وايي . هغه مورفیمونه چه په ریښه پوري نښلي پیوندونه ( affixes ) بلل کیږي. لکه په راغلم = rāglam کی ( را = rā او م = əm ) او په نیکي = neKi کی (ي = i). پیوندونه هم پرخو ډولو باندي وېشل کیږي . یو هغه پیوندونه دي چه د ریښو (roots) په سر کي راځي . لکه په راغلم کي د ( را = rā ) پیوند چه وداسي پیوندونوته سابقه ( prefix ) وايي . او بل هغه پیوندونه دي چه په ریښه پسي وروسته راځي لکه په راغلم = rāglam کی (م = am ) او په خلکو = xalku کی ( و = u ) . وداسي پیوندونوته لاحقه ( suffix ) وايي.
پیوندکله صرفي او کله اشتقاقي وي . که چیري کوم
پیوند د کلام دا جزووله امله د کلمې په ماهیت کي بدلون راولي اشتقاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیوند (derivational affix) ورته وایي . لکه په ننبکي کې چه (ننبک) صفت دی او (ي) یوه لاحقه ده چه له (ننبک) سره یوځای سوې ده اوله نوموړي صفت څخه یې اسم جوړ کړی دی . نوځکه (ي) اشتقاقي پیوند بلل کیږي . که چیرې کوم پیوند د کلمې وماهیت ته تغییر ورنکړي لکه په کښېنم ، کښېنو او کښېني) کې د (م ، و ، ي) پیوندونه چه د کلمې وماهیت (فعل) ته تغییر نه ورکوي بلکه یوازې د شخص له مخې د فعل معنی ته تغییر ورکوي . داسې پیوندونو ته صرفي پیوندونه (inflectional affixes) وایي . که صرفي پیوندونه له یوې کلمې څخه وایستل سي هر څه چه پاته سي و هغه ته ته (stem) وایي . مثلاً د (دودونه او ماشومان) په کلموکي (ونه او آن) صرفي پیوندونه دي چه که دغه صرفي پیوندونه له نوموړو کلمو څخه وباسو ، په لومړۍ کلمه کي (دود) او په دوهمه کلمه کي (ماشوم) د تنو په حیث پاتېږي . مګر د (اړتیا وي) په کلمه کي (اړتیا) تنه بلله کیږي . ځکه چه په نوموړې کلمه کي (اړ) ریښه ، (تیا) اشتقاقي پیوند او (و ، ي) صرفي پیوندونه دي ، هرکله چه صرفي پیوندونه (و ، ي) څخه وایستل سي ریښه او اشتقاقي پیوند (اړتیا) د تنې په حیث پاتېږي . د ریښې او تنې توپیر دادی چه که له یوې کلمې څخه ټول پیوندونه وایستل سي څه چه پاته سي هغه ریښه ده او که یوازي صرفي پیوندونه څخه وایستل سي څه چه پاته سي هغه تنه ده . نو ځکه ریښه (بېله ځینو استثناآتو څخه) یو واحد مورفیم وي ، مګر تنه کله کله واحد مورفیم وي لکه (دود) یا (ماشوم) او کله بیا د مورفیمونو له ترکیب څخه جوړه سوې وي ، لکه (اړتیا) . بل داچه یو مورفیم کیدای سي چه هم ریښه او هم تنه

وي لکه (دود) یا (ماشوم) د (دودونه او ماشومان) په کلموکي چه هم
ریښه او هم تنه ورته ویل کیږي .

په ځینو ژبو کي یو بل ډول پیوند هم پیښیږي چه و
هغه ته منځینه ( infix ) والي. هر مورفیم چه په بل مورفیم ننوځي و دغه ننوتلي مورفیم ته منځینه والي . مثلاً د کویلیت ( Quileute ) په ژبه کي هاکت ( $hok^{w}at'$ ) وسپین سري ته والي او هاځکت ( $ho¢k^{w}at'$ ) يې جمع ده (سپین خلک) . په نوموړي کلمه کی ¢ یو مورفیم دی چه د جمع معنی لري او منځینه بلله کیږي ، ځکه چه د هاکت ( $hok^{w}at'$ ) په مورفیم ورننوتلی دی .

په انگریزی کي (S) چه د ځینو واحدو نومونو په پای
کي راسي د جمع معنی ورکوي ، خو د محیط د تأثیر له امله يې تلفظ په یوه حال نه پاتیږي او د مختلف محیط په واسطه يې تلفظ اوړي . یعنی که وروسته تر ږغن ( voiced ) آواز واقع سي دی هم ورسره ږغن سي او که وروسته تر بې ږغه ( voiceless ) آواز راسي بې ږغه اداکیږي ، او که وروسته تر داسي آوازونو واقع سي لکه (S) یا (Z) په ( iz ) سره تلفظ کیږي .لکه په دې لاندې مثالونو کي

buk(book) + s > buks    rod(road) + s > rodz    roz(rose) + s > roziz    bas(bus) + s > basiz .

په نوموړو مثالونو کي څرگندیږي چه د محیط د تأثیر
له امله په انگریزی کي (S) چه د جمع معنی ورکوي کله کله د (S) او کله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (z) او ځینې وخت د (iz) په بڼه ځان ښکاره کوي . دغه رنګه په پښتو کې د (ستا = از تو) او (زما = ازمن) په کلمو کې (س) او (ز) دواړه یو سابقه ده چه د ملکیت (از) معنی لري . نوموړې سابقه په (ستا) کې ځکه په (س) سره تلفظ کیږي چه ترې وروسته بې غږه آواز (ت) د مخه راغلې ده او په (زما) کې ځکه په (ز) سره اداکیږي چه تر غږن آواز (م) د مخه راغلې ده .

نو د غسې مورفیم چه یوه معنی ولري او د محیط ، موقعیت یا داسې نورو عواملو په وجه کله یو ډول او کله بل ډول تلفظ کیږي تول یو صوتي واحد تشکیلوي او یو مورفیم ورته ویل کیږي . د مورفیم و هر غړي ته الوموروف (allomorph) وایي . مثلاً د پورتنیو مثالونو له مخې ویلای سو چه د انګریزي د جمع نوموړی مورفیم درې الومورفونه لري : (s)، (z) او (iz). او د پښتو هغه مورفیم چه د ملکیت معنی ورکوي دوه الومورفونه لري : (س) او (ز) .

یو صوتي واحد که دوې یا زیاتې معناګانې ولري ، نو د هغه د معناګانو د شمېر په مطابق هغومره مورفیمونه ځنې جوړیږي . لکه په پښتو کې (تور = tor) د (سیاه) په معنی یو مورفیم ، د (تهمت) په معنی بل مورفیم او د (جال) په معنی یو بل مورفیم دی . دغه رنګه (ي = i) په (نېکي = neki) کې یو مورفیم او په (راځي = rādzi) کې بل مورفیم دی ځکه چه په لومړۍ کلمه کې (i) اسمي معنی لري مګر په دوهمه کلمه کې د غایب

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفرد معنی ورکوي .
هغه مورفیم چه کله داسم اوکله د فعل معنی ورکوي
ځینی کسان یې یو مورفیم بولي او ځینی کسان یې دوه مورفیمه بولي . لکه
په انګریزی کی د (look) مورفیم . مګر داسې مورفیمونه چه د ځج په بدلون
یې معنی بدلون مومي لکه په انګریزي کې (recórd = ثبتول) او récord
(تیکلی) هر یو بیل بیل مورفیم بلل کیږي .
دا هم باید په یاد ولرو لکه څنګه چه یو الوفون د بل الوفون
پر ځای نسبي راتلای د غه رنګه الومورفونه هم هر یو ځانله د استعمال مشخص
او ټاکلی ځای لري او یو الومورف هیڅکله د بل الومورف پر ځای باندې نسبي راتلای .

# مورفوفونیمیکي بدلون او د هغه دولونه

مورفیم کله کله د خپل محیط یا نورو عواملو د تأثیر له امله بدلون مومي او بیل بیل شکلونه خوره کوي د مورفیم و دغو بیلو بیلو بدلونونو ته چه د محیط په وجه ور پیښیږي او دغه رنګه د فونیمونو داسې نورو تغیرونو ته چه په مورفیم کې د مختلفو عواملو په وجه واقع کیږي مورفوفونیمیکي بدلون وایي . مورفوفونیمیکي بدلون (morphophonemic change) په ځینو ژبو کې ساده او په ځینو ژبو کې ډیر مغلق وي . خو په عمومي ډول په دوه ډوله پیښیږي : یو دا چه مورفیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوم فونیم په وجه متأثره سي او تغییر وخوري .لکه په انگریزی کي چه (s) د جمع مورفیم دی که تر ږغن آواز وروسته راسي ږغن (z) ادا کیږي .لکه په rooms ، eggs ،او roads کي او که تر بي ږغه آواز وروسته واقع سي بي ږغه (s) تلفظ کیږي لکه په roots ، lips او books کي . په نوموړو مثالونو کي (s) تر m ، g او d وروسته په (z) او تر P،t او K وروسته په (S) سره تلفظ کیږي او په دې توگه دخپل د مخنی فونیم په واسطه بدلون مومي . دغه رنگه په پښتو کي د (زما = zmā) او (ستا = stā) په کلمو کي (ز) او (س) د مالکیت مورفیم دی .که نوموړی مورفیم تر (م) د مخه راسي په (ز) او که تر (ت) د مخه راسي په (س) سره ادا کیږي (د مورفیم بحث وگوری) . یعنی نوموړی مور-فیم دخپل وروستني فونیم په واسطه متأثره کیږي او په همدغه سبب بدلون مومي . بل داچه یو مورفیم د بل مورفیم پواسطه تغییر وخوري . مثلاً په انگریزی کي د جمع د الومورفونو (in- ~ iz- ~ z- ~ s-) په سلسله کي in- یو الومورف دی چه یوازي له āks (ox) سره واقع کیږي ، یعنی هر ځای چه د āks مورفیم راسي نو د جمع د مورفیم هغه الومورف ورسره واقع کیږي چه د in- شکل لري او āksin (oxen) تلفظ کیږي .

که یو مورفیم د ځینو عواملو په وجه بېل بېل شکلونه غوره کړي (بېل بېل الومورفونه ولري) له دغو مختلفو مغایرو شکلونو څخه یوازي یو شکل (یو الومورف) د اساسي شکل (base form) په توگه انتخابیږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اساسي شکل په اساس تول بدلونونه چه د مختلفو عواملو په وجه د نوموړي مورفیم ته ورپیښیږي او بېل بېل شکلونه غوره کوي په خلص او جامع ډول سره بیانیږي. د مثال په توګه د (ستا = stā) او (زما = zmā) په کلمو کي (س = s او ز = z) دوه الومورفونه دي چه دواړه یو ځای یو مورفیم تشکیلوي. نو که په نوموړو دوو شکلونو کي (س = s) داساسي شکل په توګه انتخاب سي باید نوموړی مورفیم داسي معرفي کړو: (س = s) یو مورفیم دی چه د مالکیت معنی ورکوي او که تر (م = m) چه یو ږغن آواز دی دغه راسي په (ز = z) سره تلفظ کیږي. مګر که په نوموړو شکلونو کي (ز = z) د اساسي شکل په حیث انتخاب سي باید په دې توګه معرفي سي: (ز = z) یو مورفیم دی چه د مالکیت معنی لري او که تر (ت = t) چه یو نې ږغه آواز دی دغه راسي په (س = s) سره تلفظ کیږي.

داساسي شکل انتخاب د مورفیم په بېلو بېلو شکلونو کي اختیاري دی، خو حتی الامکان باید کوښښ وسي چه د مورفیم هغه شکل داساسي شکل په توګه انتخاب سي چه د هغه په اساس د نوموړي مورفیم د نورو شکلونو بیان په ساده او اسانه ډول سره امکان پیدا کړي.

د مورفوفونیمیکي بدلون یو مشهور قسم اسیمیلیشن (assimilation) نومیږي او هغه دا دی چه کوم آواز د ګاونډي آواز د تأثیر له امله د نوموړي ګاونډي آواز سره یوشی سي یا ورته والی پیدا کړي. لکه په (سنبله) کي چه (ن) په (م) سره بدلون مومي یا لکه په (یک ګړ)

کي چه د (یک) ک په خبروکي په (گ) سره اداکیږي . په لومړي مثال کي (ن) په (م) سره ځکه بدلون مومي چه د (ن) له خنګه یو شونډین آواز (ب) راغلی دی او دد غه آواز د تأثیرله امله (ن) هم په شونډین آواز (م) سره اوښتی دی. په دوهم مثال کي (ک) یو بې ږغه انسدادي آواز دی چه د خپل ګاونډي آواز (گ) د تأثیرله امله ږغن سوی دی . په اسیمیلیشن کي که د مخنی آواز پر وروستني آواز باندي تأثیر وکړي او وروستنی آواز بدلون ومومي پراګریسیو ( progressive ) ورته والي لکه په ترکي کي ( =git di>git ti دی ولاړ) او که وروستنی آواز پر د مخني آواز باندي تأثیر وکړي او د مخني آواز ته تغییر ورکړي ریګریسیو ( regressive ) ورته والي لکه په (ستا) او (زما) کي چه وروستنی آواز پر د مخني آواز باندي تأثیر کوي. اسیمیلیشن دوه ډوله واقع کیږي : یو دا چه د داسي آواز په واسطه واقع سي چه د تغییر سوي آواز تر څنګ واقع وي او فاصله ونلري . ودې ډول اسیمیلیشن ته متصل (contiguous) اسیمیلیشن) والي ، لکه په (ستا) او (زما) کي. او بل دا چه اسیمیلیشن د داسي آواز په واسطه واقع سي چه د تغییر سوي آواز تر څنګ نوي راغلی او یو له بله سره فاصله ولري ، یعنی په منځ کي یې یو یا څو آوازونه راغلي وي . ودا سي اسیمیلیشن ته منفصل (noncontiguous) اسیمیلیشن والي . لکه په دري کي (سرش) چه په (شرش) سره تلفظ کیږي. په دې مثال کي لومړی (س) د وروستني (ش) د تأثیر له امله په (ش) سره تبدیل سوی دی او د (س) او (ش) تر منځ نو رفونیمونه راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مورفوفونیمیکی بدلون یو بل قسم ډیسیمیلیشن ( dissimilation ) نومیږي : کله کله په یو ترکیب (کلمه) کي یو آواز دوه ځایه (مکرر) واقع کیږي . که چیري نوموړی آواز له نوموړو دوو ځایونو څخه په یوه ځای کي په یو بل آواز سره بدلون ومومي ودغې عملیې ته ډیسیمیلیشن وايي . لکه د نموځ او لموځ په کلمو کي د (ن) بدلون په (ل) سره .

د مورفوفونیمیکی بدلون یو بل قسم قلب (metathesis) نومیږي او هغه دادی چه د فونیمونو په ترتیب کي بدلون واقع سي لکه : ځمکه ، مځکه - روځ ، ورځ - لوښت ، ولښت .

د فونیمونو زیاتوالی یا حذف بدل هم مورفوفونیمیکي بدلون بلل کیږي . مثلاً په انګریزي کي (s) د جمع مورفیم دی چه کله - کله د (z) په شکل څرګندیږي لکه په eggs ، roads او داسي نورو کلمو کي . مګر د dišiz په کلمه کي چه مفرد یې diš دی ، د (i) فونیم زیات راغلی دی . په پښتو کي ځیني خلک (ډیرش) په (ډېش) سره تلفظ کوي او کله کله - (ځلوېښت) په (ځلوېښ) سره اداکوي او په دې توګه له ډېرش څخه (ر) او له ځلوېښت څخه (ت) حذفوي . دغه رنګه په انګریزي کي بې ږغه کانسونینټ چه د دوو واولونو په منځ کي واقع سي د بېږغله ږغن کیږي لکه betar چه په bedar سره تلفظ کوي . دغه رنګه ږغن کانسونینټ چه په پای کي راسي په ځینو ژبو کي کله کله بې ږغه کیږي لکه د جرمني

tag ( ورځ ) چه په taK سره تلفظ کیږي . نوموړي اودغه ډول نور بدلونونه چه په مورفیم کي پېښیږي ټول مورفوفونیمیکي بدلونونه بلل کیږي.

# دیوې ژبې دمورفیمونو دمعلومولو اوبېلولو لارې

ځرنګه چه دنړۍ ژبې د داخلي ساختمان اوجوړښت له امله یوله بله توپیر لري ، نود هغوی مورفیمونه هم په یوه بڼه ځان نه ښکاره کوي . په ځینو ژبوکي یوډول او په ځینو نورو ژبوکي بل ډول مورفیمونه موجود دي . یوژبپوهاند دیوې ژبې د مورفیمونو دمعلومولو په وخت کي باید له ډېرغور او احتیاط څخه کار واخلي څوچه دهغې ژبې دمورفیمونو شکلونه په صحیح ډول سره پیدا او معرفي کړي . دیوې ژبې دمورفیمونو دمعلومولو او بېلولو په وخت کي باید دالاندې ټکي په نظر کي ونیول سي :

مورفیم له سېلاب سره کومه رابطه نلري . یعنې کله کله یومورفیم څوسېلابه وي او ځینې وخت یوسېلاب څومورفیمه لري . مګر داسي هم ډېر پېښیږي چه یومورفیم یوسېلاب وي . مثلاً (کندهار = Kandahār) یومورفیم دی چه درې سېلابه لري . ( ځم = dzam ) یوسېلاب دی چه دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورفیمه (dz + am) لري. (لاس = lās) یو مورفیم دی او یو سیلاب لري.
د مورفیمونو او فونیمونو شمیر هم یوله بله څه رابطه نه سره لري.
د مثال په توګه د (رنا = runā) په کلمه کښې (رڼ = ruṇ) چه دری فونیمونه
لري یو مورفیم دی او (آ = ā) چه یو فونیم دی یو مورفیم هم دی. نو یو مورفیم
ممکن یوازې یو فونیم وي. یو فونیم کله کله د بیلو بیلو مورفیمونو په ډول -
څرګند ید لای سي. خو کله کله هغه فونیم یوازې د یوه فونیم په حیث نه
د مورفیم په ډول په ژبه کي پیښیږي. مثلاً د (نیکي = neki) او (ځي dzi)
په کلموکي (i) یو فونیم دی چه په نومو رو دوارو کلموکي د بیلو بیلو مورفیمونو
په ډول راغلی دی. یعنی په لومړی کلمه کي یو ډول او په دوهمه کلمه کي بل ډول
معنی لري. مګر د (ځیر = dzir) په کلمه کي بیا همدغه فونیم معنی نلري
او یوازې د یو فونیم په حیث راغلی دی نه د مورفیم په ډول.
کله کله محقق د ژبي د مورفیمونو د معلومولو په
وخت کي له یو شمیر داسي مثالونو سره مخامخ کیږي چه په هغوی کي یو ډول
صوتي واحد ونه او یو ډول معنا ګاني راغلي وي. نو محقق باید بیله غور او
کامي تحقیق څخه دا نتیجه وانخلي چه نوموړي صوتي واحدونه دیو ډول
معنی د موجود والي له امله او د هغوی د یوشي والي په وجه یو مورفیم وبولي.
لکه چه ووایي په دې تولو کلموکي (کوړ = Kor، کوټه = Koṭá،
کږدی = Kaẓdáy، کلا = Kalá، کلی = Kálay) د هستوګنی د ځای
معنی پرته ده، او په دې تولو کلموکي یو صوتي واحد (ک = K) راغلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوځکه (ک = K) یو مورفیم دی چه د هستوګني دځای معنی ورکوي. دغه سبب دی چه محقق هیڅ وخت له نیمګړي ډېټا څخه مثبته نتیجه نه اخلي له نوموړو کلمو سره که داسي کلمي لکه (خونه = xúna، جونګړه = jongára، ښار = ṣār ...) یو ځای کړو څرګند ه به سي چه (ک = K) دهستوګني دځای معنی نه ورکوي او مورفیم نسي بلل کېداې.

که یو مطلب په دوو بېلو ژبو کي اداسي، ممکن د مورفیمو نوشمېر بېل - توپیر ولري. د مثال په توګه په پښتو وایي: زه کور ته ځم = za Kor ta dzam او په انګریزي وایي: ay go hom = I go home نوموړی مطلب په پښتو کي په پنځه مورفیمه (za + Kor + ta + dz + am) او په انګریزي کي په درېو مورفیمه (ay + go + hom) سره اداسوی دی. نوکه موږ وغواړو چه د انګریزي ژبي د نوموړي خبري مورفیمونه د پښتو د ترجمې له مخي معلوم کړو باید په دې فکر کي ونسو چه څکه چه په پښتو کي نوموړې خبره پنځه مورفیمه لري نو په انګریزي کي هم باید پنځه مورفیمه ولري. بلکه زموږ تحقیق باید د حقایقو پر اساس بنا وي او څکه چه د انګریزي ژبي مورفیمونه معلومو نو د انګریزي ژبي خپل ساختمان باید په نظر کي ونیسو نه دا چه د پښتو ژبي د ساختمان په اساس د انګریزي ژبي ساختمان فرض کړو.

د یوې ژبي په مورفیمي تجزیه کي موږ باید ژیاړ وباسو چه د هغې ژبي - ساختمان په هغه ډېټا کي چه موږ یې په لاس کي لرو په داسي کوچنیو ټوټو سره تجزیه کړو چه نوموړې هره ټوټه یوازي یو مورفیم وي. او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجزیې مونږ د شکلونو د پرتله کولو او مقایسه کولو په ترڅ کې کولای شو . که دا کار مونږ په بریالیتوب سره سرته ورسوو نو ټول هغه مورفیمونه به چه په ډېټا کې موجود دي لاس ته راسي . د مثال په توګه په لاندې ډول د پشه یي ژبې د هغې لهجې د یوې لنډې ډېټا مورفیمي تجزیه کوو چه د نور درې په "پنجوقلعه" کې خلک خبرې په کوي :

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1 . éloamā́gošiŋše | دا زمونږ کور دی. | 4. élodār | دا غر. |
| 2 . éloamā́bāgše | دا زمونږ باغ دی. | 5. búbaKā́rgošíŋ | ډېر ښه کور. |
| 3 . amā́gošíŋ | زمونږ کور. | 6. pašayibúbaKā́rjábše | (پشه یي ډېره ښه ژبه ده) |
| 7. élobaKā́rbāgše | دا ښه باغ دی | | |

که د لومړۍ او دوهمې خبرې معناوې سره پرتله کړو د دواړو خبرو معناوې نور سره یوشی دي او یوازې په (کور) او (باغ) کې توپیر سره لري . د نومړو خبرو په پشه یي شکلونو کې کوم توپیر چه راغلی دی هغه یوازې د gošíŋ او bāg په ټوټو کې دی . نو کوم معنی لرونکي او ګرامري ټوټې چه مونږ د نومړو دوو خبرو د مقایسې له مخې سره بېلولای شو یوه د gošíŋ او بله د bāg ټوټه ده چه لومړۍ ټوټه د (کور) او دوهمه ټوټه د (باغ) معنی ورکوي . په دریمه خبره کې یوه د gošíŋ ټوټه راغلې ده چه د مخه یې مونږ معنی لاس ته راوستلې ده چه و (کور) ته وایي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومورې خبرې په معنی کې هم دغه مطلب موجود دی. د نومورې خبرې پاته برخه amá ده چه د دغې خبرې د معنی له مخې څرګندېږي چه د (نوموړي) معنی ورکوي. که لومړۍ او څلورمه خبره سره پرتله کړو - څرګنده به سي چه د نومورو خبرو په معنی کې یوازې یو مطلب مګر راغلی دی چه هغه د (دا) مطلب دی او د نومورو دوو خبرو په پښه یې شکلونو کې هم یوازې یوه ټوټه مګر راغلې ده چه هغه د élo ټوټه ده. نو د نومورو دوو خبرو له پرتلې څخه دا څرګندېږي چه élo او (دا) سره یوشی دي او هر کله چه په څلورمه خبره کې موږ ته دا څرګنده سوه چه د élo ټوټه د (دا) معنی لري نو دا هم باید ومنل سي چه په نومورې خبره کې د پښه یې خبرې پاته ټوټه ( dār ) د نومورې خبرې د پاته سوې معنی (غر) سره یوشی ده. اوس بیرته ولومړۍ خبرې ته راځو. په لومړۍ خبره کې د نورو ټولو شکلونو معناوې لاس ته راغلي دي او یوازې د پښه یې په خوا کې ( še ) او د پښتو ترجمې په خواکې (دی) پاته دی چه طبعاً دا دواړه سره یوشی دي. یعنی ( še ) د (دی) معنی ورکوي.

په پنځمه خبره کې gošiŋ موږ ته معلوم سو چه د (کور) معنی ورکوي. په دې ډول پاته ټوټه ( bubakár ) د (دېر-بنه) په معنی پاتېږي. که دغه ټوټه په اوومه خبره کې وپلټو، څرګنده به سي چه نومورې ټوټه یو واحد موږفیم نه دی. ځکه چه د هغې یوه برخه ( bakár ) د (بنه) په معنی راغلې ده او بله برخه یې ( bú ) یو بل

مورفیم دی چه په څرګند ډول د (ډبر) معنی ورکوي. په شپږمه خبره کي نوږ تول مورفیمونه موږ ته معلوم دي اوکوم شی چه پاته دی هغه د پشه‌یي په خوا کي د jáb توته او د پښتو ترجمې په خوا کي د (ژبه) مفهوم دی چه دا دواړه هم طبعاً باید یوشی وبلل سي. یعنی jáb د ژبي معنی لري په پوره‌تني ډول موږ وکولای سوای چه تولي معنی لرونکي توتې چي په نوموړي ډېټاکي راغلي دي د هغوی له معنا ګانو سره لاس ته راولو. د دغي لنډي ډېټاله مخي د شکلونو د پرتله کولو او مقایسه کولو په ترڅ کي موږ دا هم څرګنده کړه چه نوموړي توتې واحد مورفیمونه دي. د نوموړو مورفیمونولست په لاندي ډول سره ترتیبولای سو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| élo | دا | dār | غر |
| amā́ | زموږ | bú | ډبر |
| gošíŋ | کور | bakā́r | ښه |
| še | دئ | jáb | ژبه |
| bāg | باغ | pašayí | پشه‌یي |

د یوې ژبي د مورفیمونو د معلومولو له پاره کافي موادا وکره کتنه ضروري ده. ځکه چه په لږ و موادو کي ځیني وخت محقق د مورفیم حقیقي بڼه نسي پېژندلای. نو د پاره ددې چه ډېرکوچني معنی لرونکي صوتي واحد ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل حقیقي شکل او بڼه سره پیدا کړای سي محقق باید هغوی په ډول ډول او بېلو بېلو خبرو کي ترغوږ لاندي و نیسي او د هغوی د صحیحي اندازي په باره کي خپل ځان ډاډه کړي . دا دی اوس د عبري ژبي د لاندني دېتاد مورفیمي تجزیې په ترڅ کي پردې مطلب باندي رڼا اچوو :

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. | šamartīhū | مـا دی وساته | 5. | šamarnūhā | موږ دا وساتله |
| 2. | šamartīhā | ما دا وساتله | 6. | šamarnūkā | موږ تاسي وساتلاست |
| 3. | šamartīkā | ما تاسي وساتلاست | 7. | qataltīhū | مـا دی و واژه |
| 4. | šamarnūhū | موږ دی وساته | 8. | qatalnūhū | موږ دی وواژه |

په لومړۍ او دوهمه خبره کي د معنی توپیر یوازي په (دی) او (دا) کي راغلی دی . یعني د نوموړو دواړو خبرو معنی یوشی ده یوازي دومره فرق لري چه په لومړۍ خبره کي غایب مذکر او په دوهمه خبره کي غایب مؤنث یاد سوی دی . عبري خبري هم دواړه نوړکټ مټ یوشی دي یوازي د لومړۍ خبري په پای کي ū او د دوهم مثال په پای کي ā راغلی دی نو په سرسري نظر که سړی وګوري ممکن دا نتیجه واخلي چه (ū) یو مورفیم دی چه د (دی) یعنی غایب مذکر او (ā) یو بل مورفیم دی چه د (دا) یعنی غایب مؤنث معنی ورکوي . خو که دریمه خبره هم ورسره یوځای کړو څرګندېږي چه (šamartī) په دواړو خبرو کي مشترک

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی دی او کوم شی چه په دې وسرو خبرو کي تو پیر لري هغه د hū ، hā ، او Kā توري دي. ځکه چه د نوموړو درو خبرو نوره معنی یو شی ده او یوازي په درو ضمیرونو کي توپیر سره لري. نو اوس باید دا نتیجه ځني واخلو چه نوموړي دري توري دري موږ فیمونه دي چه د نوموړو دې وضمیرونو له پاره راغلي دي یعني hū د (دی) ، hā د (دا) او Kā د (تاسي) معنی ورکوي.

که ځلمه ، پنځه او شپږ مه خبره هم ورسره یوځای کړو او له نوموړو شپږو برخو څخه هغه موږ فیمونه چه د څخه موږ معلوم کړل (hū ، hā او Kā) وباسو په پاتو برخو کي šamar په ټولو خبرو کي مشترک راغلی دی یوازي په کوم ځای کي چه د مفرد متکلم ضمیر (زه) راغلی دی هلته (tī) او په کوم ځای کي چه د جمع متکلم ضمیر (موږ) راغلی دی هلته (nū) ورسره یوځای سوی دی. نو ځکه دا نتیجه اخلو چه (tī) یو موږ فیم دی چه د مفرد متکلم (زه) معنی لري او (nū) یو موږ فیم دی چه د جمع متکلم (موږ) معنی ورکوي.

که او ومه او اتمه خبره هم له نوموړو خبرو سره یو ځای کړو ، کومه توته چه نا آشنا په نظر راځي هغه د (qatal) توته ده. د نوموړو دوو خبرو په معنی کي چه کوم شی موږ ته نوی په لاس راغلی دی هغه د (وواژه) مطلب دی. ځکه چه د دغه نوي مطلب له پاره یوه نوې توته (qatal) په لاس کی ړو نو دا نتیجه اخیستلای سو چه (qatal) یوه

توته ده چه د ( وواژه ) معنی ورکوي .

که ټولي خبري له سره تر پایه وګورو ، بیله (وسانه) څخه نور د ټولو معنا وو له پاره مو ، مورفیمونه یا معنی لرونکي ټوټې پیدا کړي دي ، او د شپږو په هغه موادو کي چه مونږ ترڅېړني لاندي نیولي دي یوه ټوټه ( šamar ) پاته ده . ځکه چه په یوه خوا کي د (وسانه) مطلب او په بله خوا کي د ( šamar ) ټوټه لرونو خرګندیږي چه ( šamar ) یوه معنی لرونکي ټوټه ده چه د (وسانه) معنی ورکوي . بل دا چه که لومړۍ او شلمه خبره له اوومي او اتمي خبري سره مقایسه کړو خرګنده به سي چه په نومړو خبروکي په کومځای کي چه (وسانه) راغلی دی هلته د ( šamar ) او په کوم ځای کي چه ( وواژه ) راغلی دی هلته د ( qatal ) توته راغلې ده چه دا هم پردې باندي دلالت کوي چه د ( šamar ) ټوټه د (وسانه) په معنی سره پېښیږي . د نومړو خبرو د مورفیمو نولست په لاندي ډول سره ترتیبولای سو:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| šamar | — | وسانه | hā | — | دا |
| ti | — | زه | Kā | — | تاسي[1] |
| hū | — | دی | nū | — | مونږ |

qatal — وواژه

(1) : تاسي د احترام له پاره راغلی دی . اصلاً Kā د مفرد مخاطب له پاره راځي .

دیوي ژبې د مورفیمونو د معلومولو په وخت کي باید د مورفیمونو الومورفونه هم په نظر کي ونیسو ، او که کوم مورفیم بیل بیل الومورفونه ولري هغوی هم باید معلوم کړو او د هغوی د استعمال مشخص ځایونه وښیو . د دې او س به د مثال په توګه په لاندي ډول د ( زپوتیک zapotec ) د ژبې دیوې لنډې ډېټا مورفیمي تجزیه وکړو او وبه ګورو که څینو مورفیمونو الومورفونه درلودل هغه به هم معلوم کړو او د هغوی د استعمال مشخص ځایونه به وښیو . دزپوتیک ژبه په مکسیکو کي ویله کېږي .

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. reKabiza? | زه جواب ورکوم (استمراري حال) | 8. duwaza? | زه ژوند کوم |
| 2. rudibiciza? | » زه وچوم | 9. ru?naza? | زه غور ځوم (استمراري حال) |
| 3. rugalaza? | » زه اورلګوم | 10. Ki | پر یوول |
| 4. riKiaza? | » زه کېنم | 11. ra?aza? | زه څم (استمراري حال) |
| 5. eKabi | جواب ورکول | 12. udibici | وچول |
| 6. riduwaza? | زه ژوند کوم (استمراري حال) | 13. duwa | ژوند کول |
| 7. riKuwaza? | » زه ساتم | 14. ritaza? | زه اخلم (استمراري حال) |
| 15. riKiza? | زه مینځم (استمراري حال) | | |

نو موږ ډېټا که سر تر پایه پوري په یوه نظر سره وګورو ، دري د ولسو مورفیمونه یکښې راغلي دي : تنه ، واحد متکلم ، ضمیر او استمراري حال .

په (1،2،3، 4، 6، 7، 9، 11، 14 او 15) مادوکي د مورفيمونو نوموړي د ړي سره دولونه راغلي دي. په (5، 10، 12 او 13) مادوکي يوازي تنې او په اتمه ماده کي تنه او د واحد متکلم ضمير راغلی دی. که (6، 7 او 13) مادې سره پرتله کړو څرګنده به شی چه (duwa) تنه، (zaʔ) واحد متکلم ضمير او (ɽi) استمراري حال ښيي. دغه رنګه په ټولو هغو موادوکي چه (زه) راغلی دی ـ هلته (zaʔ) هم راغلی دی. له دې څخه څرګندېږي چه (zaʔ) د (زه) په معنی دی. که دوهم او دوولسم ماده سره پرتله کړو څرګنده به سی چه (udibici) تنه ده چه د (وچولو) معنی لري، (zaʔ) د (زه) معنی ورکوي او کوم صوتي واحد چه د استمراري حال معنی لري هغه د (ɽ) صوتي واحد دی. ځکه چه (ɽi) او (ɽ) دواړه د استمراري حال معنی ورکوي نو څرګنده ده چه نوموړي دواړه صوتي واحدونه د يوه مورفيم الومورفونه دي. د دې دپاره چه په ښه توګه څرګنده سي چه نوموړي صوتي واحدونه الومورفونه دي نو ښايي چه د هغوی مشخص استعمال هم پيدا کړو. په نوموړو موادوکي که په غوړ سره وکوړو څرګنده به سي چه (ɽi) تل تر کانسونينټ او (ɽ) تل تر واول دمخه راځي او يو د بل پر ځای باندي هيڅکله نه واقع کېږي. نو ځکه موږ دا دواړه صوتي واحدونه د يوه مورفيم الومورفونه بولو. هغه مورفيمونه چه په نوموړې ژبه کي راغلي دي په لاندي ډول سره ښوولای سو:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. | r ~ ri [1] | استمراري حال | 7. | duwa | ژوندکول |
| 2. | zaˀ | زه | 8. | Kuwa | ساتل |
| 3. | eKabi | جواب ورکول | 9. | uˀna | غوښتل |
| 4. | udibici | وچول | 10. | Ki | پریوتل |
| 5. | ugala | اورلګول | 11. | aˀa | تلل |
| 6. | Kia | کښېنول | 12. | ˀa | اخیستل |

کله کله د مورفیمونو د الومورفونو د استعمال مشخص ځایونه د هغه محیط له مخې چه نوموړي الومورفونه پکښې واقع سوي وي نه څرګندېږي. په داسې حال کې بنایي چه ټول هغه ځایونه و ښوول سي چه نوموړي مغایر شکلونه پکښې واقع کېږي. د مثال په توګه د مکسیکو د یوې بلې ژبې چه هبواوې (Huave) نومېږي ددې لاندې دېټا مورفیمي تجزیه کوو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. andiomáac | مو ډېله کوو | 2. ačiatíac | مو ښ خیرو |
| 3. imboláac | مو ښ باېرېږو | 4. ahiráac | مو ښ لرو |
| 5. ačičíac | مو ښ څښېنو | 6. ahačiác | مو ښ ورکوو |

(۱) د غږ د ول علامه (~) د یوه مورفیم د الومورفونو د ښوولو په غرض د نوموړي مورفیم د الومورفونو ترمنځ راځي (دد غه مبحث پای وګورئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| 7. andoKáoc | موږ کبان نیسو | 8. ianáac | موږ ځنی راځو |
| 9. acohóoc | موږ لوبه کوو | 10. uwíac | موږ پوړ اخلو |
| 11. akoočíac | موږ پرېکوو | 12. auwáac | موږ وځو |
| 13. andok | کبان نیول | 14. anǰialáac | موږ میده کوو (په بېچن یا د ډی نوبو) |
| 15. ašomáac | موږ پیدا کوو | | |

نوټ : پرته له دیارلسمي مادې څخه چه یو موږ فیم دی، په نورو ټولو خبرو کي دوه دوه موږ فیمونه راغلي دي.

که په نوموړي ډېټاکي په غوږ سره وګورو په هره ماده کي یو متکلم ضمیر او یو فعل راغلی دی. که دریمه او دوولسمه ماده سره مقایسه کړو، څرګنده به سي چه په دواړو کي یو مشترک صوتي واحد ( áac) راغلی دی او د نوموړو ما دو په ترجمه کي موږ یو مشترک مطلب (موږ) لرو. نو ځکه د دغي ډېټاله مخي نوموړی مشترک صوتي واحد ( áac ) د (موږ) معنی ورکوي. او که په نورو هغو ځایو کي چه نوموړی صوتي واحد راغلی دی وګورو، وهم دغه نتیجه واثبات ته رسیږي. یعني هر ځای چه ( áac ) راغلی دی په پښتو ترجمه کي (موږ) راغلی دی. په شپږمه او لسمه ماده کي یو بل صوتي واحد ( íac ) مشترک واقع سوی دی چه د دغو ما دو په ترجمه کي یو مشترک مطلب (موږ) راغلی دی. نوموړی صوتي واحد هم د (موږ) په معنی سره بېلولای سو. دغه رنګه که اوومه او دیارلسمه ماده سره

پرتله کړو څرګنده به سي چه ( óoc ) هم د (موږ) معنی ورکوي. نو په نوموړې ډېټا کي دړې صوتي واحدونه د لاحقې په توګه د (موږ) له پاره راغلي دي چه دړې سره د يوه مورفيم الومورفونه بلل کيږي. د دغه موږ ته ويل سوي وه چه پرتله ديارلسمي مادې څخه په هره ماده کي دوه مورفيمونه راغلي دي. ځکه چه په نوموړې هره ماده کي د جمع متکلم د مورفيم الومورف راغلی دی نو د هري مادې پاته برخه له هغه فعل سره مساوي ده چه و موږ ته د هغې مادې په ترجمه کي راکړه سوی دی. د نوموړي ډېټا مورفيمونه په لاندې ډول سره بېلولای سو :

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. _áac ~ _íac ~ _óoc | موږ | 2. andiom | هيله کول |
| 3. imbol | بېرېدل | 4. ahir | دړلوول |
| 5. ačič | ځبېښل | 6. ahač | ورکول |
| 7. andoK | کبان نيول | 8. ian | راتګ |
| 9. acoh | لوبه کول | 10. uw | پوهول |
| 11. aKooč | پرې کول | 12. auw | وتل |
| 13. anǰial | ميده کول | 14. ašom | پېلکول |
| 15. ačiat | خيرل | | |

د جمع متکلم د مورفيم د الومورفونو د استعمال مشخص ځايونه د نوموړي ډېټا له مخې نه معلوميږي. نو ځکه د دې د پاره چه د هغوی د استعمال



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشخص ځالونه وښوول سي یوازني لاره داده چه د هرالوموړف سره دتولو هغو شکلونو لست واخیستل سي چه له هغه الوموړف سره واقع کیږي. دالستونه په لاندي ډول سره ترتیبولای سو :

| -áac : | | -íac : | | -óoc : | |
|---|---|---|---|---|---|
| andiom- | هیله‌کول | ačiat- | څیرل | andoK- | کلابنول |
| imbol- | بېرول | ačič- | څبېښل | acoh- | لوبه‌کول |
| ahir- | درلوول | ahač- | ورکول | | |
| iən- | راتګ | uw- | پورول | | |
| auw- | وتل | akooč- | پرې‌کول | | |
| anǰial- | میده‌کول | | | | |
| ašom- | پیداکول | | | | |

خو په داسي مواقعوکي دپاره ددې چه زموږ په کارکي اسانتیا پېښه سي، ډېره ښه لاره داده چه لومړی له -iác او -óoc سره دهغو شکلونو لست ترتیب کړو چه له نوموړو دووالوموړفونو سره واقع کیږي او وروسته وو وایو چه نور ټول شکلونه له -áac سره واقع کیږي. دلته مطلب صرف دادی چه په دغه ډول لستونو کي سړی ودې ته نه مجبوره کیږي چه ټول شکلونه ولیکي او په دې لحاظ یوه اقتصادي لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې د پاره چه د مورفيمونو رابطه يوله بله سره وښوول شي نو په پوړتنۍ مورفيمي تجزيه کې د ځينو مورفيمونو سره د رابطې وړه ليکه (ـ) راغلې ده . هغه شکل چه همېشه د کوم ترکيب په سر کې راځي ، نو موږ يې وړه ليکه تر هغه شکل وروسته ايښوول کېږي . هغه شکل چه همېشه د کوم ترکيب په پای کې واقع کېږي نو موږ يې ليکه تر هغه شکل د مخه راځي . که وغواړو چه د کوم مورفيم بېل بېل الومورفونه وښيو نو بايد د نوموړو الومورفونو تر منځ يوه کږه وږه ليکه کښېږدو .

# لهجوي اطلس

هر کله چه د وه کسه په يوه ژبه خبرې سره کوي که سړی په ډېر غور ورته غوږ ونيسي ، د دوی په خبرو کې توپير موجود وي . او همدا غه يوه موضوع يو سړی په يو ډول او بل سړی په بل ډول کلمو کې اداکوي . ممکن يو سړی په خپلو خبرو کې داسې کلمې استعمال کړي چه د هغه بل سړي د کلمو په پانګه کې نوي ، يا يې زده وي خو د هغوی د استعمالولو سره عادت ونلري . د غه ډول ديوې کورنۍ لهجه و بلې کورنۍ ته څه ناڅه توپير لري . په يوه ټولنه کې بېل بېل اجتماعي ګروپونه لکه خواران

او بډایان، مریان او خپلواک وګړي، تعلیم یافته او بې تعلیمه خلک په خپل منځ کې د لهجې اختلاف لري. تر دې چې ځینې وخت داسې پېښېږي چې د یوه اجتماعي ګروپ غړي د بل اجتماعي ګروپ غړي په خبره که څه هم دواړه د یوې ژبې ویونکي وي خو د لهجې د توپیر په وجه سمه نه پوهېږي. د نرو او ښځو لهجه هم توپیر سره لري. د زلمیانو او زړو په وینا وو کې هم ځینې وخت توپیر لیدل کېږي. مثلاً د افریقا په ډېرو ښارونو کې زلمیان له اکثرو هغو مذهبي اصطلاح ګانو سره چې د دوی پلرونه او میندې پرې پوهېږي آشنایي نلري. دا توپیر په هغو ځایونو کې ډېر لیدل کېږي چې ژوند او کلچر په چټکتیا سره د بدلون په حالت کې وي. هغه خلک چې هر وخت په نږدې تماس کې وي یا په یوه کلي یا یوه ښار کې ژوند کوي او په همغه یوه اجتماعي یا اقتصادي ډله پورې اړه لري ژبه تقریباً په یوه ډول سره استعمالوي. مګر هغه کسان چې په ندرت سره یا بې بخې موقع نو یې میندلي چې یو له بله سره په تماس کې سي او خبرې اترې سره وکړي، په خبرو کې یې زیات توپیر لیدل کېږي. د مثال په توګه د برتانیې علمي انګریزي ژبه په لندن او مانچسټر کې ډېره ورته والی سره لري. خو د نوموړو ښارونو په شاوخوا کې محلي لهجې یو له بله ډېر توپیر سره لري. د جغرافیائي موقعیت پر اساس ممکن د یوې ژبې ویونکي په خپلو خبرو او وینا وو کې څرګند اختلافونه او توپیرونه ولري. دا توپیرونه په عمومي ډول په آوازونو، شکلونو، د شکلونو په ترتیب، کلمو او معنی ګانو کې لیدل کېږي د مثال په توګه د کندهار د لهجې د (ږ) او (ښ) آوازونه د ننګرهار او په

ځینو نورو لهجو کې په (گ) او (خ) سره اداکیږي. په کندهار کې و (چوپان)
ته (شپون) او (موټروان) ته (موټروان) وایي، مګر په ځینو نورو لهجو کې نوموړې
کلمې په (شپین) او (مېټریان) سره تلفظ کیږي.

یوه ورځ له کندهاره څخه کابل ته په موټر کې تللم. موټروان
او کلینر دواړه ډیکتیا وو. پر لاره کې د موټر په ماشین کې څه خرابي پیښه
سوه. کلینر ورکښته سو پر ماشین یې کار شروع کړ. موټروان په سیټ
کې ناست ؤ او کلینر ته یې ورږغ کړل: "چکیش کېږده چکي روخله"
که موټروان د کندهار په پښتو خبري کولای نو به یې ور ته ویلي وای:
"چکش کښېږده چاکو را واخله".

په ځینو لهجو کې وایي (سړی دئ = saray day) او
په ځینو لهجو کې وایي (سړی دی = saray day) مګر په ځینو لهجو کې وایي
(سړی ده = saray da). په کندهار کې (گوګرد) ته (اورلگیت یا-
اولگیت) وایي، او (گرگ) ته (شرمښ) وایي، او (ډنګر) د لاغر په معنی استعمالوي
مګر په ځینو نورو لهجو کې (گوګرد) ته (ګوګړ) او (گرگ) ته (لېوه) وایي او
(ډنګر) د (غوایي) په معنی استعمالوي.

که موږ وغواړو چه د دوی ژبې بېلې بېلې لهجې او د
هغوی توپیرونه په صحیح ډول سره وښوولای سو، نو د هرې لهجې په
باره کې د ژبپوهنې له اصولو سره سم پوره تحقیقات کوو، او هغه مواد چه
د هغوی په واسطه موږ د نوموړي ژبې بېلې بېلې لهجې او د هغوی توپیرونه

وښو ولای سو د ژبپوهنې د علمي اساساتو له مخې راغونډ وو. دغه مواد چه را ټول سول او د خپرولو له پاره آماده سول موږ کولای سو چه په بېلو طریقو سره هغه نشر کړو : یوه طریقه دا ده چه د یوه کاغذ پر مخ باندې د هر جواب ورکوونکي ( informant ) خبرې په بېلو بېلو عمودي ستونونو کې په داسې ډول سره راولو چه د ټولو جواب ورکوونکو هغه جوابونه چه د یوې موضوع په باره کې یې ورکړې دي څنګ پر څنګ پر یوه افقي لیکه باندې واقع سي، خو په دې توګه موږ وکولای سو چه نوموړي جوابونه یو له بله سره پرتله کړو. بله طریقه دا ده چه نوموړي جوابونه د نقشو په توګه په داسې ډول سره وښیو چه په هغه کې د هر جواب ورکوونکي جواب د هغه د جواب ورکوونکي د هستوګنې په ځای کې واقع سي. دغه دوهمه طریقه یوه غوره طریقه ده. ځکه چه د دغسې نقشو یوه مجموعه موږ ته موقع را کوي چه د یوې ژبې د بېلو بېلو عناصرو د استعمال مشخص ځایونه په نوموړو نقشو کې د مقایسه کولو په ترڅ کې پېدا او مقایسه یې کړو او په یوه نظر سره په اسانه توګه له نوموړو نقشو څخه خپل مطلب لاس ته راولو. د دغسې نقشو مجموعه چه په هغو کې د یوې ژبې د بېلو بېلو لهجو د دغسې او داسې نورو توپیرونو ښوول سوي وي د ژبپوهنې په اصطلاح لهجوي اطلس ( dialect atlas ) بلل کېږي.

کوم سړی چه د ژبې تحقیق کوي و هغه ته محقق ( Field worker ) وایي. جیلیرون ( Gillieron ) چه د سوېس

یو ډېر نامتو ژبپوهاند دی وايي چه محقق باید یو سړی وي . یعني دیوې ژبې ټولې لهجې بنايي چه دیوه سړي په واسطه ثبتې سي . مګر جود ( Jud ) او جې برګ ( Jaberg ) چه دواړه دده شاګردان وو دایټالیې او سویس د ژبپوهنې او نژادپوهنې ( Ethnology ) داطلس په ترتیبولو کې یې له دې و تنو څخه کار اخیستی دی .

محقق بنايي چه دلهجې په محل کې کار وکړي او دجواب ورکوونکي جوابونه بې‌ځنډه باید ولیکي . ډېرتا ( هغه مواد چه دژبې دلهجو دتحقیق له پاره راغونډېږي ) بنايي چه دخبرو دعادي سرعت له مخې ثبت‌ته سي چه طبیعي وي نه دورو او غیرطبیعي خبرو په موقع کې . دخبرو په ثبتولو کې به ډېر تسلواړ نکوي . یعني هرکله چه محقق ډاډه سي چه آوازونه یې په صحیح ډول سره اورېدلي دي نو وروسته دي د هغوی په ثبتولو کې اقدام وکړي . محقق باید له جواب ورکوونکي څخه داغوښتنه ونکړي چه یو توری تردې یا څلورو واره زیات تکرار کړي . بلکه اکثره محققین ولومړي تلفظ ته اهمیت ورکوي او که کوم اشتباه ورته پېښه سي هغه په نورو مشابهو خبرو کې رفع کوي . محقق باید داکوښښ ونکړي چه دژبې ټول مواد هرو-مرو تر عمومي قواعدو لاندې راولي . ځکه چه په یوه ژبه کې بې قاعده او غیرمنظم شیان دژبې یوه مهمه برخه تشکیلوي او دباقاعده شیانو په څېر اهمیت لري . نو ددې له امله هرڅه باید کټ مټ په هغه ډول سره ثبت سي چه په ژبه کې موجود وي او دهیڅ شي له ثبتولو څخه باید سترګې پټې نسي . خجونه او فشارونه په

اکثرو ژبو کي د کلمواو جملو و معنی ته تغییر ورکوي . لکه د (غوټه، پرته، کښېنستم) په کلمو کي که پر لومړي سېلابونو باندي زور واقع سي یوه معنی ورکوي ، اوکه دپای پر سېلابونو باندي زور راسي بله معنی ورکوي . دغه رنګه د (زه په پوهنځي کي له دهسره ګرامر وایم) په جمله کي پرځلونو و برخو باندي موږ فشار راوستلای سو . پر هره برخه چه فشار راولو د جملي معنی څه توپیر پیدا کوي . یعنی که پر (زه) باندي فشار راولو دا معنی ورکوي چه بېله ما څخه بل څوک له ده سره په پوهنځي کي ګرامر نه وایي یا ممکن دا معنی ورکړي چه بېله ما څخه دي بل څوک له ده سره په پوهنځي کي ګرامر نه وایي . که پر (پوهنځي) باندي فشار راولو دا معنی ورکوي چه زه له ده سره په پوهنځي کي ګرامر وایم او بل ځای یې نه ورسره وایم . که پر (ده) باندي فشار راولو دا معنی ورکوي چه له بل چا سره زه په پوهنځي کي ګرامر نه وایم بلکه یوازي له ده سره یې وایم . اوکه پر (ګرامر) باندي فشار راسي بیا دا مطلب ځني اخیستل کېږي چه بېله ګرامر څخه کوم بل مضمون له ده سره په پوهنځي کي نه وایم . نو ځکه د تحقیق په وخت کي محقق بنایي چه د ژبي ځجونه او فشارونه هم ثبت کړي څو په دې برخه کي هم دیوې ژبي د لهجو توپیر او ورته والی څرګند سي .

په هغه سیمه کي چه محقق د ژبي د لهجو تحقیق کوي لومړی باید د نوموړي سیمي یوه جغرافیایي سروې وکړي څو په دې توګه څه عمومي (وابتدایي) معلومات د هغو بېلو بېلو سیمو په باره کي لاس ته راولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په هغوی کي د ښځي د استعمال توپیر ونه موجود وي . وروسته تر هغه محقق باید دوه کاره وکړي : یو دا چه د هغو جغرافیايي سیمو یو لست ترتیب کړي چه په هغوی کي د ژبي هغه عناصر چه یو له بله توپیر سره لري وروسته په غور سره وکتل سي . بل دا چه د هغو عناصرو لست ترتیب کړي چه په نومورو سیمو کي باید د هغوی تحقیق وسي . دغه دوهم لست چه دیولړ پوښتنو څخه مرکب دی د یوه پوښتنلیک ( questionnaire ) شکل غوره کوي . هغه پوښتني چه د یوه پوښتنلیک په توګه ترتیبیږي بنايي چه یو له بله سره رابطه ولري . یعني که له جواب ورکوونکي څخه لومړی دا پوښتنه وکړو چه تاسي و پلار ته څه وایاست ، دوهم پوښتنه مو باید دا وي چه تاسي مور ته څه وایاست او وروسته پسی د خور ، ورور ، ولور او داسي نورې پوښتني وکړو او هر ګوری وموضوع ته بنايي چه تغییر ورنکړو .

نومورې لستونه چه ترتیب سول بیا نو محقق په نومورو سیمو کي سفر کوي او په هره هغه سیمه کي چه د ده د مخه د تحقیق کولو پاره ټاکلي ده توقف کوي . په هغه ځای کي مناسب جواب ورکوونکي (informants) پیدا کوي او د هر جواب ورکوونکي څخه یو پوښتنلیک تهیه کوي . په عمومي ډول په یوه سیمه کي د وه جواب ورکوونکي انتخابیږي او نومورې خلک بنايي چه داسي کسان وي چه له کوچنیوالي څخه په هغه ځای کي لوی سوي وي او هغه مواد چه محقق یي په دغه سیمه کي راغونډ وي د نومورې ټولي سیمي د خلکو د ژبي نماینده ګي وکړي . محقق باید د نومورو موادو د راغونډ ولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ولیکي . د جواب ورکوونکي په انتخابولو کې د محقق ډېر غور لازم دی.
کوم څوک چه پوښتنه ځني کیږي د هغه نوم، د هستوګنې ځای، د هستوګنې
د ځای بدلون، په نورو ژبو کې د ده معلومات، سن او داسې نور معلومات چه
د ژبې په بدلون کې برخه لري باید ولیکل سي . د جواب ورکوونکي عمر باید تر
شپاړسو کالو زیات وي . ځکه چه بېله جزوي استثنا آتو څخه هغه څوک چه
عمر یې تر شپاړسو کالو لږ وي په ژبه کې پوره تجربه او معلومات نلري . په
عمومي ډول نر ته د جواب ورکوونکي په حیث ترښځې ترجیح ورکوله کیږي .
ځکه چه نر نسبت و ښځې ته په ټولنه کې په عمومي ډول له خلکو سره ډېر تماس
لري . د جواب ورکوونکي فکري ذکاوت د ژبې په تحقیق کې ډېر اهمیت لري ،
او هر څومره چه په ژبه کې ډېر معلومات ولري هغومره ښه نتیجه ولاس ته
راځي . د جواب ورکوونکي خوله او غاښونه باید نواقص ونلري . ځکه چه که
یې غاښونه وتلي وي یا یې مثلاً ژبه کوم عیب ولري ، ممکن د ژبې آوازونه
په صحیح ډول سره ادا نکړای سي . که یو محقق وغواړي چه صحیح مواد
او سم ډېټا لاس ته راولي نو ښایي چه د جواب ورکوونکي ټول اوضاع او خواص
مطالعه کړي او د هغه په خوی او بوی ځان پوه کړي . ځکه صحیح او د
داد وړ جوابونه هغه وخت محقق له جواب ورکوونکي څخه اخیستلای سي
چه د وی یو له بله سره و پېژني او یو د بل په خوی او بوی سره بلد سي .
محقق باید په دې عقیده وي چه جواب ورکوونکی همېشه صحیح جوابونه
ورکوي . نو ځکه دی باید له جواب ورکوونکي سره مباحثه ونکړي . که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله جواب ورکوونکی ممکن غلط جواب ورکړي خو محقق باید دلیلونه ورسره ونه وایي. ځکه تجربې ثابته کړې ده چه له جواب ورکوونکی سره دلیلونه ویل ګټه نلري او محقق کولای سي چه داسي مشکلات د خپلي ډېټا په نورو محتویاتو کي حل کړي. محقق باید د جواب ورکوونکي په مرسته او سېوونه خپل تلفظ صحیح کړي. کوم آواز یا کومه کلمه یا خبره چه محقق د هغه په تلفظ کي اشتباه ولري په جواب ورکوونکي پسی دي څو واره تکرار کړي څو صحیح تلفظ یې زده کړي او جواب ورکوونکی هم د هغه د صحت تصدیق وکړي. له جواب ورکوونکي څخه بنایي چه د ژبي په باره کي علمي پوښتني ونسي مثلاً دا باید څني ونه پوښتل سي چه ولی د (ما احمد ولید) پرځای (زه احمد ولید) یا د (زه احمد وینم) پرځای (ما احمد وینم) نسو ویلای. د داسي پوښتنو جوابونه باید وروسته تر هغه چه مواد راغونډسول او ډېټا ترتیب سوه له ډېټا څخه واخیستل سي. د تحقیق په وخت کي دي د جواب ورکوونکي لیاقت او ذکاوت وستایل سي. له جواب ورکوونکي سره ډېر صمیمانه او دوستانه وضعیت کول د محقق د بریالیتوب سبب ګرځي. په یوه وخت کي باید ډېر کار ونسي. په عمومي ډول محقق باید په یوه وخت کي تر (۴۵) دقیقې زیات کار ونکړي. یعنی وروسته تر هرو (۴۵) دقیقو باید تفریح وسي. که محقق په ورځ کي درې واره له جواب ورکوونکي سره پنځه څلوېښت دقیقي کار وکړي او نور وخت د نوموړو موادو په مطالعه او د ځینو ریښو او پیوندونو (affixes) په یادولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر کړي ممکن يوه سمه او د پام وړ ډېټا راغونډه او ترتيب کړي. خو د محقق له پاره لازمه ده چه د تحقيق په وخت کي د ژبي ځيني اساسي مواد لکه د کلمو رېښې، ځيني لاحقې، سابقې او د هغې ژبي داسي نور هم عناصر زده کړي.

هر کله چه ټول مواد په نوموړي ترتيب سره راغونډ سول نو وروسته نقشې ترتيبېږي چه په هغه کي د هغو عناصر و استعمال په بېلو بېلو سيمو کي وښوول سي چه د هغه په پوښتنليک کي ترتيب سوي دي.

توماس او ايلن د امريکا د ژبپوهني نامتو پوهان دي چه د لهجوي اطلس د موادو د راغونډولو په برخه کي يې نسبتاً نوي طريقي استعمال کړي دي. چارلس ک. توماس (Charles K.Thomas) د ژبي هغه عناصر چه دی يې د لهجو د معرفي کولو له پاره ضروري بولي په جواب ورکوونکي باندي يې لولي او د ټېپ ريکارډر په ذريعه يې ټېپوي. په دې طريقه کي دده ګټه دا ده چه دی وايي داسي چا ته اړتيا نلري چه په فونيتيکس کي د ډېري پوهي خاوندوي او نه دی ورته ضرورت پيدا کوي چه مجادله وکړي چه څه ډول سيمبولونه او علامې د څه ډول آواز و نو له پاره بايد استعمال سي. که څېړی د ټېپ څخه کار وانه خيستل سي نو د ژبي مواد د تحقيق په وخت کي په ډېر دقيق ډول سره ثبتول غواړي او دا کار هغه څوک کولای سي چه په فونيتيکس کي کافي معلومات او لوړه مهارت ولري، څو د ژبي د لهجو ټول آوازونه د هغو فونيتيکي علامو او سيمبولونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره سم ولیکي چه ورته تاکل سوي دي . دغه رنګه توماس په نوموړي طریقه سره د ډېرو خلکو دخبرو نمونې په لږ وخت کي ثبتولای سي . برسېره پر دې د ټیپولو په واسطه ډېرداسي فونولوجیکي خواص څرګندېږي چه حتی یوه ډېره دقیقه فونوتیکي الفبا او سیمبولونه یې هم نسي څرګندولای . ددې طریقې یوه بله ګټه داده چه د عروضي خواصو (suprasegmental characteristics) یا په بل عبارت د ژبي په معنی کي د خجونوا و فشارونو داهمیت په باره کي هم صحیح معلومات لاس ته راتلای سي .

هیرلډ ب . ایلن (Harold B. Allen) له یوې بلي طریقې څخه کار اخلي او هغه داده چه لومړی د جواب ورکوونکي څخه خواهش کوي چه داسي شیان لکه د هفتې ، دورځو یا د میاشتو نومونه وښیي او ورو وسته بیا ځیني جملې ورکوي چه خالي ځایونه ولري او هغه ډک کړي . لکه په دې جمله کي : (ددوی ... ډېری شیدې کوي) چه جواب ورکوونکی په نوموړي خالي ځای کي هغه کلمه راوړي چه د(غوا) له پاره یې استعمالوي . خو دا هم ممکنه ده چه جواب ورکوونکی د(غوا) د کلمې پرځای د (کاميښي) کلمه راوړي . نو دې د پاره چه د جواب ورکوونکي څخه هغه کلمه لاس ته راولي چه د (غوا) له پاره یې استعمالوي داسي جملې چه د نوموړي جملې سره ورته والی ولري څو ځله تکراروي څو چه جواب ورکوونکي ودې ته مجبور سي چه په خالي ځای کي د(غوا) کلمه استعمال کړي . مثلاً داسي جملې لکه ( ددوی ... لنګه سوه او ګیلګی یې راوړ ) یا لکه (غوئي دیوي او ... د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شید وله پاره روزل کیږي) او داسي نور ... ټول پوښتنلیک په همدې ترتیب جواب ورکوونکی لولي او د جملو خالي ځایونه ډکوي او په همغه وخت کي د جواب ورکوونکي جوابونه ثبتیږي. د ژبي عروضي خواص د ځینو نورو هغو مخصوصو موادو څخه لاس ته راولي چه له جواب ورکوونکي څخه يې ثبت کړي وي.

# د لهجوي اطلس اصطلاحات

د لهجوي اطلس کي د ژبپوهني علما ځیني اصطلاحات راوړي چه دلته یې باید په لنډ ډول سره یا دونه وسي. په دې جمله کي آیسوګلاس (isogloss) یوه ډېره مهمه اصطلاح ده چه ډېره استعمالیږي. د لهجوي اطلس په ترتیبولو کي ډېر مهم کار دادی چه د ژبي د مختلفو عناصرو د استعمال توپیر چه په بېلو بېلو سیمو کي موجود وي ـ وښوول سي او د هغوی ویشونه او سرحدونه وټاکل سي. هغه سرحدي لیکه چه د ژبي د یوه عنصر د استعمال توپیر په مختلفو سیمو کي وښیي آیسوګلاس بلل کیږي. ځیني آیسوګلاسونه نسبت و ځینو نورو آیسوګلاسونو ته ډېر مهم بلل کیږي. مثلاً کوم آیسوګلاس چه دوې لویي سیمې سره بېلوي نسبت و هغو آیسوګلاسونو ته ډېر مهم بلل کیږي چه ترکلیوا و وړو وړو سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غیر منظم ډول سره تیرېږي . دغو کوم عنصر چه په یوه محل و ده سیمه کي استعمالیږي او دغه سیمه د یوه آیسوګلاس په واسطه احاطه سوې وي وهغې سیمې ته مرکزي سیمه (focal area) وایي . دغو ځیني هغه عناصر چه د استعمال تو پیر لري ممکن په پراګنده ډول سره تیت سوي وي نو ځکه آیسوګلاسونه هم دد غسي عناصرو د استعمال د ځایونو د ښودلو په غرض یو په بل سره نو تللي او ګډ وډ سره واقع سوي وي . داسي سیمي چه دغسي آیسوګلاسونه پکښې راغلي وي ګریډیډ ایریا (graded areas) یې بولي . کله کله یو زیات شمیر -آیسوګلاسونه په یوه ځای کي سره واقع سوي وي او تقریباً پر یوه خوا باندي تللي وي . هغه سیمه چه د آیسوګلاسونو د دغسي بنډلونو په واسطه سره بېله سوي وي لهجوي سیمه (dialect area) یې بولي او دغسي آیسوګلاسونه چه د بېلو سیمو په منځ کي یې یو پلن سرحد تشکیل کړی وي نسبت و یوه آیسوګلاس یا هغو آیسو--ګلاسونو ته چه شمیر یې لږ وي دغو یې د پر تغییر وړ او بدلونونه ښیي او ممکن کله کله دد غسي سیمي پر لهجه باندي یو بېل نوم کښېښول سي .

لومړی پوښتنه چه د لهجوي جغرافیې پوهان باید و هغه ته جواب ورکړي دا ده چه آیا دغه آیسوګلاسونه یا آیسوګلاس همېشه ځای پر ځای ولاړ وي او که په حرکت کي وي ، او که حرکت کوي نو پر کومه خوا باندي روان وي؟ یو آیسوګلاس یا د آیسوګلاسونو یو بنډل چه د کوم داسي سدله ځنګه سره تیر سوي وي چه د خلکو په منځ کي یې رابطه او تګ راتګ قطع کړی وي په عمومي ډول د توقف په حالت کي وي . دغو یې د کوم عنصر یا عناصرو استعمال له مرکز ځخه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې څخه ترسرې پورې او له کلي څخه ترکلي پورې خپرېږي اوتر هغه وخته پورې په حرکت کې وي څو چه دکوم مانع سره مخامخ سي او ودرېږي. دامانع ممکن طبيعي وي لکه کوم غر یا کوم لوی سیند یا ممکن سیاسي وي. که چیرې دا ډول مانع وجود ونلري نو سرې باید اغلباً داسې نتیجه واخلي چه دژبې نوموړی عنصر یا عناصر تل په حرکت کې وي او وهرې خواته چه لار ولري هلته نفوذ کوي.

دژبني اطلس په نقشو کې ندي وازې لیکې استعمالولای سو بلکه موږ کولای سو چه مربع ګانې، مثلثونه، دایرې او داسې نورې نخښې استعمال کړو. دمثال په توګه په پښتو کې د (ښ = ṣ) آواز په ځینو ځایو کې په (ښ = ṣ) په ځینو سیمو کې په (خ = X) او په ځینو منطقو کې په (خ = X̄) سره تلفظ کیږي. که موږ وغواړو چه د (ښ = ṣ) نوموړې درې ډوله سیمې په یوه نقشه کې وښیو، کولای سو چه په هغو ځایو کې چه (ښ = ṣ) والي دمربع، او په هغو سیمو کې چه (خ = X) والي د مثلث، او په هغو مناطقو کې چه (خ = X̄) والي ددایرو علامې — کښیږدو او په دې توګه د نوموړي آواز بېل بېل تلفظ په مختلفو سیمو کې دنقشې پرمخ وښیو.

کله کله د ژبې کوم عنصر یا عناصر په هماغه یوه ځای کې په بېل بېل ډول سره استعمالیږي چه وداسې ځایو ته انتقالي سیمه (transition area) وایې. لکه د کندهار په علاقه کې چه (کښې) او (کې)

د وارې وايي مګر په ننګرهارا و ځينونورو سيمو کي (ګنبي) نه استعماليږي. کله کله د ژبي ځيني عناصر نوازي په هغو سيمو کي پيدا کيږي چه ګوښه واقع سوي وي او خلک يې له نورو سيمو سره ډېر تګ او راتګ نه لري د دغسي سيمو له پاره د مارجنل (marginal) يعني ځِنډي يا ګوښه اصطلاح راوړله کيږي.

# يَادُونَه

ژبه او ليک بايد سره بېل سي. ژبه د هغو آوازونو مجموعه ده چه تر يو خاص نظم او سيستم لاندي دانسان د صوتي غړو په واسطه اداکيږي. مګر ليک د سيمبولونو داسي يو سيستم دی چه د دغو آوازونو د ښيلو او ترسيمولو له پاره په کاريږي. د عصري ژبپوهني له مخي و دغو رسم سوو سيمبولونو ته ژبه نه سو ويلای. نو که موږ وغواړو چه د يوې ژبي تحقيق وکړو بنايي چه خبري تر غوږ او کتني لاندي ونيسو نه ليک؛ خصوصاً په پښتو او د هغي ژبو کي چه د ټولو وا ولي آوازونو له پاره ليکلي سيمبولونه نسته او د ليک له مخي د نوموړو ژبو د خبرو ټول آوازونه نسي تمثيلولای.

د ژبو د ساختمان او جوړښت او د هغو د بېلو بېلو لهجو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توپیرونو څېړل او معلومول ځانله اصول او میتود لري چه دا کار باید له دغو اصولو او میتودو سره سم وسي نه په غیرعلمي او اټکلي توګه.

د نړۍ ژبي د ساختمان او جوړښت له مخي یو له بله سره توپیر لري. نو ځکه د یوې ژبي ساختمان او جوړښت باید د کومي بلي ژبي د ساختمان او جوړښت پر اساس تر تحقیق او څېړني لاندې ونه نیول سي، بلکه هره ژبه بنایي چه د خپل ساختمان په چوکاټ کي وڅېړله سي.

ددې د پاره چه یوه نوې ژبه په لږ وخت، په اسانه توګه او په نسبتاً بشپړ ډول زده سي نو د شاګرد د مورنۍ او د هغې ژبي جوړښت او ساختمان چه شاګرد یې نوې زده کوي هرو مرو باید سره پرتله سي څو په دې توګه د نوموړو ژبو توپیرونه څرګند سي. وروسته شاګرد باید د هغو توپیرونو په زده کړه کي ډېر زیار وباسي چه د ده ژبه یې له هغې ژبي سره لري چه دی یې زده کول غواړي.

— پای —

لیک: نصیر حلیمي سپنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې رسالې په ليکلو کې ما دا لاندې کتابونه کتلي دي :


1. Allen Harold B. 1958, Applied English Linguistics, New York.
2. Bloomfield, Leonard 1933, Language, New York.
3. Gleason Henry A. Jr., 1955, An introduction to descriptive linguistics, New York.
4. Hall, Robert A., Jr. 1960, Linguistics and your language, N.Y.
5. Herbert Penzl 1961, A Reader of Pashto. The Univ. of Michigan.
6. Hockett Charles E. 1959, A course in modern linguistics N.Y.
7. Kenneth L. Pike 1947, Phonemics, The Univ. of Michigan.
8. Nida, Eugene 1949, Morphology, The Univ. of Michigan.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورك كتابلرى سوسيته‌سى

دوغمه جى مطبعه‌سى

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**